

## ځانګړنې:


د کتاب نوم: **دا شپې به شي يادونه**

**ويناوال: ډاکټر ذبيح الله "حسن"**

*hassandoctor2000@yahoo.com*

چاپ کال: جنوري ۲۰۱٦

چاپ وار: لومړی

ډيزاين: ذبيح شفق

پروف ريډنګ: نجيب ننګيال او فضل رېي رستم

چاپځی: د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه


# دا شپې به شي يـــادونه

پنځمه شعري ټولګه

## ډاکتر ذبيح الله "حسن"

## غزل

خود به غزلبول یم چې راګوري تل
تراشم له دې کانه غزلتوري تل

نه کړو لکه تندر د رڼا تبلیغ
پټه خوله ځلېږو لکه ستوري تل

لوست یې که وي ګران درته، معافي غواړم
نوم دې چې لیکمه لاس مې ښوري تل

کړنګ تر کلک نه زیات وي د نازک لوښي
چیغې زوروړې کړې کمزوري تل

زړه چې د "حسن" درنه خوابدی شي
سترګې یې وي بیا هم ستا په لوري تل

یو شعر:
ټوله زمونږ له کوره تر خپل ګوره کیسه دومره وه
هر قدم مدفن او په هر لاس کې دی کفن زمونږ



دا شپې به شي یادونه

## غزل

زه چې اوښکې څڅومه لکه شمعه
په اوبو ځان ویلومه لکه شمعه

له سرو سترګو مې لا څومره اوښکې غواړې؟
اور اوبو کې زنګومه لکه شمعه

انتها د بې وسۍ مې ده لا پاتې
غم دې غم ته بلومه لکه شمعه

دا چې ځاځي مې له سترګو، اوښکې نه دي
د زړه اور ایرې کومه لکه شمعه

راته مه راکوئ غسل ژړا مړ کړم
ځان په خپله لمبومه لکه شمعه

حقایق په شعر کې نشم ځایولی
تش یې سیوري پنځومه لکه شمعه

اور خو نه يم چې په باد باندې تازه شم
په يو سوړ اسويلي مرمه لکه شمعه

خپلې اوښکې په خپل ځان پورې کنګل کړم
ستا لمن ترېنه ساتمه لکه شمعه

دنيا اوس هم ورته سر وايي "حسنه"
په اوږو اور ګرځومه لکه شمعه

✸

ښکاري د خير د حصول لپاره
اخير به شر ته خلک ملا وتړي

هسې نه غرب غوندې مجبور شي خلک
چې شيطان خلاص کړي او ملا وتړي





## جنګ

جنګ دې ورک شي، جنګ بلا ده
جنګ مرض دی، جنګ وبا ده

جنګ بدرنګ دی، د زړه زنګ دی
جنګ د نُور له کوره غلا ده

جنګ يرغل پر ناموسونو
جنګ د کونډو واوېلا ده

جنګ زما او ستا ګناه ده
جنګ نسلونو ته سزا ده

جنګ توهين د انسانيت دی
جنګ د هر حېوان وينا ده

جنګ زانګو د غلامانو
جنګ د بل غېږ کې پناه ده

جنګ پلورل دي، وطن مور ده
جنګ د مور پر سر سودا ده

جنګ دتا سکون لوټلی
جنګ زما کډه پر شا ده

جنګ تعصب دی، جنګ نفرت دی
جنګ په ذهن کې خلا ده

جنګ غُربت، جنګ جهالت دی
جنګ د کور اور ته هوا ده

جنګ شبخون پر ارزښتونو
جنګ د دين خونه تالا ده

جنګ د کرکو پرورش دی
جنګ له انس وتلې ساه ده





جنګ لمسون دی د دردونو
جنګ غوغا ده، جنګ ژړا ده

جنګ دحورو قتلګاه ده
جنګ د پېغلو کربلا ده

جنګ کې خپل سوځي "حسنه"
جنګ پردو ته تماشا ده

✸

چې خبره د برېتو او ږيرې راشي
د وطن د تباهۍ جنګ ته تيار يو

څه به ډار رانه غليم کاندي "حسنه"
چې په لومو د ويښتانو کې ايسار يو.

## غزل

پټه خوله دې لکه سیوری ځم په څنگ کې
نور دې سترې کړم له زړه سره په جنگ کې

سپک پر سر لکه اوبه وړي سنگین مه شه
ما لیدلي دا وگړي په هر رنگ کې

دا پرده به دې له خلکو، صورت وخوري
لکه اوسپنه ځان مه نغاړه په زنگ کې

څه پوښتې چې غم دې څنگه غزلبول کړم
له ویالې جوړ شو ابشار په دې گړنگ کې

پرمختگ د وخت پر لاره ځي یواځې
نام و ننگ ورسره تلی نه شي په څنگ کې

د ښکلا ځپې چاپېرې تر "حسن" کړه
لا خو پاتې دی غورځنگ په دې نهنگ کې





## غزل

تنده غرو ارمانونو ته سراب یم
په نظر کې د دنیا لکه دریاب یم

دوتنیو د خاموشۍ کې یم پوښلی
چې مې وسپړې دننه لوی کتاب یم

د نظر له مېخانې یمه راغلی
رانه لرې کړه جامونه ډېر خراب یم

له هوا د اسویلو مې ټټر ډک دی
د اوبو جامې په تن لکه حباب یم

تاو د عشق دې لوړ قامت راته بښلی
که هر څومره مضطرب لکه سیماب یم

شمعې بلې دي د ستوریو پرې "حسنه"
زه مې ځلي ته ولاړ د خپل شباب یم

## د ساه ترنم

زه چې د ورځې په مزدورۍ اخته يم
په خيال کې ستا د خوب سره د رقابت تابيا کوم
په وچو هډوکو او لغړ بدن
زور راوړم
چې نن
کار زر رالنډ کړم
او ستا تر خوب نه وړاندې
ستا په سترګو کې
بېتابه هرکلی ووينم
خو د تل په څېر
هر ځل
په دې سيالۍ کې پاتې راشم
زه چې خيرن لاسونه مينځم
او کور ته در رسم
رقيب خوب دې
له مانه وړاندې
ستا د لېمو په بستر کې پروت وي
او زه شپه ستا د ساه ترنم ته رڼه کړم





## غزل

شپه شوه مسافر به وي ورک سم په تصويرونو کې
څوک به جانان ګوري څوک به چم په تصويرونو کې

څومره خبرلوځه خاموشي دې پنځولې ده
ته وا انځورګر پوکلی دم په تصويرونو کې

وتی به مې عکس له تصوره د دې خلکو وي
ګوري به مې نښې د قلم په تصويرونو کې

توري ستا د حسن د رنګونو مې په واک کې دي
زه چې غزلبول تراوسه يم په تصويرونو کې

څومره دې چې لنډ لنډ وو په لاره کې د تګ پلونه
هومره دې غم اوږد و د قدم په تصويرونو کې

مه وروړه لاسونه لا "حسنه" ياري نوې ده
تيت به شي رنګونه شته لا نم په تصويرونو کې

اور خو نه يم چې په باد باندې تازه شم
په يو سوړ اسويلي مرمه لکه شمعه

خپلې اوښکې په خپل ځان پورې کنګل کړم
ستا لمن ترېنه ساتمه لکه شمعه

سوړ زړه هم په خاکسارۍ باندې ګرمېږي
له خاک دود سره کنګل واورې ويلېږي

په غضب دې ځان ته سخت کړل دا وګړي
درته چا وې: چې په اور خاورې ويلېږي





## غزل

بې محبته زندګي ښه نه وي
خو ياري هم د هر سړي ښه نه وي

پر يو او بل به لکه شونډې پرېوځو
يو څه خو وايه خاموشي ښه نه وي

چې ورته ځان ښکاري شتمن پر پانګه
دومره د فکر غريبي ښه نه وي

د خولو تېلو کې سپرغۍ مچکې
شو به لمبه ډېره مستي ښه نه وي

رانه په مينه کې اخيستی شې کار
په دښمني کې لېوني ښه نه وي

له پښتنې مينې دې ځار شمه خو
زما ټينګار ستا بې وسي ښه نه وي

په پټه خوله شه تر جانانه لوګی
"حسنه" خوی د سپېلني ښه نه وي

✸

دين بېزار دی يو ځل بيا له مسلمانه
انسانيت دلته شرمېږي له انسانه

د منطق اواز مې نه درته رسېږي
ته ظالمه تللی وړاندې يې له مانه





## غزل

رانه وړي يې، اسويلي شړلی نه شم
حجابونه مې پر ځان نيولی نه شم

چې صفت دې څوک کوي هم بد رالګي
په هېڅ شي کې دې شريک منلی نه شم

د تسل سيکه دې واخله خفه نشې
زه مې درد په دې قيمت پلورلی نه شم

ما وې : دام دې د ادا څنګه ادا کړم
وې : د دام مارغه يم دام ټاکلی نه شم

وې :چې هېر مې نه کړې ياره ګوره پام کړه
ما وې :ظلم خو پر ځان کولی نه شم

د "حسن" په شعر کې سا پوکم مرګيه
دومره ژر خو درته روح سپارلی نه شم

## غزل

د ديدن مې بهانه درته راوړې
نن مې نوې ترانه درته راوړې

راشه تول دې په مچکه کې کړم ياره
د گرانښت مې پيمانه درته راوړې

د خپل حُسن په جادو يې حقيقت کړه
ما د مينې افسانه درته راوړې

د ښو ښاخونه مه ښوروه سروې
ما د اوښکو اشيانه درته راوړې

څو شپې ورکړه "حسن" ته ، بيلتون ډېره
هېرېدو ته زمانه درته راوړې

✸

بې وسي مې بې حسي مه گڼه ياره
جوړ په اوښکو تصويرونو ته مې گوره
که موسکا د بې وسۍ مې دې کړه هېره
د زخمي زړه پرهرونو ته مې گوره





## غزل

چې مې ورک زړه ته روان دتا په پله يم
لېونتوب ته رسېدلی يم که نه يم؟

سوي سوي اسويلي ژباړم په شعر کې
د شپېلۍ غوندې سوری سوری په زړه يم

دوه څېرې په يوه څېره کې معلومېږي
دا يې ته په ايينه کې او که زه يم؟

بې تابي د نامدارانو مې ليدلې
د شهرت په نشېب خوښ لکه اوبه يم

لاس دې کېږدمه په زړه که اوبه درکړم؟
نن دې ډېر وايه په زړه او که په خوله يم؟

که طبيب يې راته ووايه "حسنه"
نه مې درد شته او نه تبه نو په څه يم؟

## غزل

ستا موسکا مې بيا باور پرې تازه کړی
اوس مې بيا زوی مړي ژوند ته زړه ښه کړی

تا قاموس کې د ثواب او ګناه وليد
زما زړه د ژوند مانا دی اوبه کړی

تا چې هر غم دی راکړی راسره دی
ما چې زړه درته درکړی تا څۀ کړی؟

نن مې وچه خوله ياري راسره نه کړي
نن چې ما ستا شکايت راپه زړه کړی

شور د سرو سترګو يې اورمه "حسنه"
که فرياد يې راته نه دی په خوله کړی





✸

ته چې ترې نه ووتې
ژوند مې په هر چا پېټی شو
هر څوک غواړي له سترګو يې فنا کړي
دفن يې کړي

خو، هېڅوک هم ستا نوم او ملامتيا ته ګوته نه نيسي
په رښتيا چې په ساه پسې څوک نه ګرځي
ټول په مړي خاورې اړوي

✸

تر يو ځايه که جلا جلا بهېږو
په اخير کې سره يو لکه لښکر شو

د قومونو په نامه يو دريابونه
چې خبره د وطن شي، سمندر شو

## غزل

چې دا ستا غونډې درزا لرم په زړه کې
زه به هم څه تمنا لرم په زړه کې

چې لفظونو کې راټوله شي غزل شي
خلک وايي چې سودا لرم په زړه کې

سرې اوښکې مې په وريت زړه باندې څاڅي
زه چې دومره واوېلا لرم په زړه کې

د سفر ياران مې شته پروا مې مه کړه
يو مې سيوری دی بل تا لرم په زړه کې

زړه او مخ مې يو او بل سر شو د ځمکې
لمر پر ټنډه او بېګاه لرم په زړه کې

ستا شغلې که په جامو کې نه پټېږي
مه کړه غم د عشق تقوا لرم په زړه کې





تل که ستا په دنياګۍ کې درپسې يم
ځان ته هم يوه دنيا لرم په زړه کې

صبربېدل درنه هم تريخ لکه بېلتون دی
لکه رنځ هسې دوا لرم په زړه کې

وې: په ښکلو مې د چم سترګې ړندې شي
د "حسن" غونډې اشنا لرم په زړه کې

✸

خدابزده څه مې پر زړه کېږي
نن خو بيا ډېره درزا کړي

هغه شعر مې زمزمه کړه
چې اروا ورته نڅا کړي

✸

بې وطنه او بې کوره
هر یو دم سوځو په اور کې
هله خلاص له کرایې شو
چې پیدا کړو کور په ګور کې

✸

تا راکتل ما اړولې سترګې
اوس چې درګورم وارخطا ولې شوې؟
مېوه چې سره شي، شي خوراک ته جوړه
له شرمه سره چې شوم، په شا ولې شوې؟

✸

دومره د ژوند سره جنګ ستړی کړمه
چې د ځان سیوری مې شو دروند راباندې
د ژوند په دښته کې راپرېوتلم
هسې د مرګ لېوه شو ړوند راباندې





✸

تش جیبونه مې مه ژاړه
سپېره موټې مې درخلاص کړه
په هر لاس کې مې راووړې
له دریاب د مزدورۍ نه
د تناکو په سیپۍ کې
د اوبو ګوهري څاڅکي.

✸

په اسانۍ تر تخته ورسېدم
نه مې جنګجو، نه مې اسیر وژلی

یوازې قتل مې کړه تمه خپله
نه مې انسان، نه مې ضمیر وژلی

## غزل

مخکې اشنا دومره زهير خو نه وم
لکه گونگی داسې تصوير خو نه وم

تا په شيشو کې د ککو انځور کړم
ياغي شاعر ومه اسير خو نه وم

ما ترې شړل په لمس د مينې پيريان
چل د تعويذ نه راتلو پير خو نه وم

غوښته په تول دې رانه مينه ولې؟
زه که وم خوار په زړه فقير خو نه وم

تا خو په خپله رابللی نه وم
خوب د لېمو دې وم، تعبير خو نه وم

گوره هر څه زما تقصير مه گڼه
زه هم اسير ومه، تقدير خو نه وم





شوق دې بدل شو د نظر ،کنه زه
هغه "حسن" ومه، تغير خو نه وم

يو شعر:
جوړ له خټو زړه مې سترگو ته ودرېږي
کنه زړه مې سم د اوښکو باران غواړي

زور مې د غم اخير تر زړه نه خېږي
که څنگ کې ډېر خپل او پردي لرمه

د غم خځلې مې جارو کړي له زړه
شکر دی باد د اسويلي لرمه

## غزل

تش له عشق د مئین زړه کچکول په تلو ورم
له اوبو نه جوړ حباب تش له اوبو ورم

هیڅ درمل بل ددې رنځ راسره نشته
د غم دوړې له سینې په اسویلو ورم

زړښت څه دی ساه زما ټټر کې ځغلي
خو د ژوند پېټی د بل چا په اوږو ورم

اسویلي مې له خبرو سره مله دي
تور لوګي دي په اوږو يې د لمبو ورم

ټول پوهېږي چې له ګل نه یم راغلی
که هر څومره پټه خوله لکه خوشبو ورم

څو غزلې دې "حسنه" راته راکړه
رنځور یار ته مې ګلونه د زخمو ورم





## غزل

ته یې غوښتې خو تاته پته نه وه
پښتنه مینه وه بې سته نه وه

بیا یې هم سترګو ته ونه رسېدم
دومره مې لوړه تر قامته نه وه

ژړا مې زیاته په راستۍ شوه د ځان
ټوله د څړیکو له شدته نه وه

تاته یې خال ماته یې داغ ډالۍ کړو
ستا یارانه بې مروته نه وه

ما فرصتونه، نه لیدل "حسنه"
خبره ورانه له قسمته نه وه

## غزل

اوښکې مه څڅوه ژر لکه تڼاکې
شي بربنډ به دې پرهر لکه تڼاکې

چې دردونه مې د فکر پسې واخلي
پر سر واچوم څادر لکه تڼاکې

هر چا اوښکې او زخمونه غوټه کړي
هرې خوا ته دی منظر لکه تڼاکې

په پرده کې له خپل درد سره لګیا یو
نه مو شور شته او نه شر لکه تڼاکې

زړه مې درد کړي لا کېږدۍ وینم "حسنه"
د وطن په هر ډګر لکه تڼاکې

**یو شعر:**

نه په خندا او نه په چیغو ارزي
داسې حالت مې پر خوله لاس نیولی





## غزل

د شیخ به هم پته د زور ولګي
چې یې په غوږ د بنګړو شور ولګي

غرنی حُسن او زما اسویلي
تېزه هوا ده اور به نور ولګي

اوس پکې پوخ یمه، راځه غېږې ته
یو بل دې هم راباندې تور ولګي

دوی جنګوي ډېرین زړونه سره
زموږ په جونګړو باندې اور لګي

اړتیا یې پاتې هېڅ رڼا ته نه شي
چې مې نظر پر مخ د مور ولګي

رېباره وایه د "حسن" غزلې
اخیر درک به یې د کور ولګي

## غزل

کلي په کلي شوه خوره د کور خبره نه وه
سودا د زړونو وه اشنا د زور خبره نه وه

وې: ستا د لنډې ساه هم لاس په رسوایۍ کې و نن
تشه زما د شنو بنګړو د شور خبره نه وه

پکې لمبې د رقابت معلومېدې له ورایه
تا وو منلي د بل چا، د مور خبره نه وه

هسې مالت وو تنګ نظره پکې ګرانه وه لږ
کنه کیسه خو وه رښتیا د تور خبره نه وه

تا پکې هسې کړو رنګ زېړ د اننګو جانانه
د "حسن" مینه وه ډالۍ، د پور خبره نه وه

یو شعر:
ملګرتیا د ژوند د بحر نوره څه وه
هر یو موج یې د ساحل غونډې خوړلم





## غزل

چې راشې ته، ډډه له شره وکړي
څرېکې مې تېښته له پرهره وکړي

ځواني مې کاشکې د کیسې غونډې شي
چې څوک یې بیا راته له سره وکړي

ما لا پخوا وي زمزمه په شعر کې
یو څوک چې نن کوم خبره وکړي

تر دروغجنې "هو" ډېر خوند راکوي
یو څوک چې "نه" راته په نره وکړي

په تن "حسن" دومره پیاوړی نه دی
خو بس خبره زوروره وکړي

✸

تر خبرو ډېر ځګونه ترې راوځي
بندول د وازې خولې د ور مشکل وي
له هر کس نه یې"حسنه" تمه مه کړه
تر خبرو د سکوت هنر مشکل وي

✸

خلـک وايـي چـې تـه راغلـې او روان يـې
خـو لا مـا دې پـه زړه پـل ليـدلی نـه دی
شي ملگـری دا احسـاس راسره ژونـده!
چـې تراوسـه مـو يـو بـل ليـدلی نـه دی

✸

سـيلابونو تـه د اوښـکو
پـر مـخ بيـا تـړم بندونـه
چـې موسـکا مـې اننگـي کـړل
بيـا "حسـنه" ولونـه، ولونـه

✸

وې: چـې سـتا د مخ هـم څـه عجب موسم دی
خولـه دې وچـه خـو پـه سـترگو کـې دې نـم دی
مـا وې: نـم د شـوند پورتـه کـړي لېمـو تـه
لـه اولـه دا فطـرت زمـا د غـم دی





## غزل

غـل دی، پـه وره نـه، پـه دېوالـه راځـي
سـترگې تـرې نـه واړوم پـه زړه راځـي

وچـه مـې وه خولـه سـتا پـه ليـدو اول
اوس پکـې اشـنا ولـې اوبـه راځـي؟

داسـې تمنـا درتـه راوسـتی يـم
نـه زړه کـې تـم کېږي نـه پـه خولـه راځـي

تـه يـوازې نـه يـې چـې راځـې زړه تـه
غـم درپسـې شـاته سـتا پـه پلـه راځـي

سـتا جفـا مـې هـم زړه کـې سـاتلې ده
بـدې تجربـې ژونـد کـې پـه ښـه راځـي

دا دې د عشـق کـوم مقـام تـه راوسـتم؟
چـل چـې نـه د لمـس نـه د کاتـه راځـي

خدای که یې "حسنه" تم کولای شم
وي مې چې په زړه هغه په خوله راځي

✸

شاید پیل مې د مینې درنه هېر شي
هېرول به یې تر عمره درته یاد وي

د "حسن" یادونه مه شړه له زړه نه
بیابان په لېونو باندې اباد وي

✸

ځار له احساس د ناپوهۍ نه شمه
چې هوډ د زده کړې مې کم شوی نه دی

ورته "حسنه" نه ترم بندونه
دریاب د فکر مې تم شوی نه دی





## غزل

څه که لمر غوندې پناه رانه جانان شي
شي یې ستوري خاطرې زړه مې اسمان شي

هر سړی په دې هجوم د ځانځانۍ کې
چې بې یاره شي په مونږ باندې تاوان شي

ډکو سترگو کې مې هیلې لکه وریځې
چې یې زور د الوت ختم شي باران شي

یو ځل بیا کړه وارخطا سترگې راپورته
هر یو کار چې څومره کړې هومره اسان شي

ما وې :نیم پر ځای پوره مخ راښکاره کړه
وې :چې مال ډېر په بازار کې شي ارزان شي

د الفت د ابشارونو نغمې وژني
په گرداب کې د نفرت چې سرگردان شي

پېژندل كه د چا وخت غواړي "حسنه"
ځينې شته چې په ليدو په سړي گران شي

✸

مجبوري دې چې په عذر باندې اړ كړي
طبيعتونه شي اوتر دلته د خلكو

برسېرن به رواجونه شي "حسنه"
چې فكرونه شي ژور دلته د خلكو

✸

د سپين زړه غوندې مې سپين واړه ويښتان شول
شكر لاړ خو مې يو څوك د زړه پر لاره

په اوږو يې وي خالي كوپړۍ "حسنه"
خو بيا هم درومي كارۀ واړه پر لاره





## غزل

غبږ كړي چې څوك نشته په دې نام په كور
تېر شم په ازغو كې د گلفام په كور

ټيټ دې چې نظر شو په سوال زما
بل دې ځواب اور كړو د ابهام په كور

زلفې دې، تاوېږي تر خالونو نه
ستوري مېلمانه دي د ماښآم په كور

مه گوره شملې ته پر ټيټ سر باندې
توغ د ازادۍ دی د غلام په كور

لمر ته دې نظر مې، حُسن ونيسه
پاتې به دې دا ثمر شي خام په كور

ناست په غزل بڼ كې يې "حسنه" تل
كړه هم كله خو لږ پام په كور

## غزل

د داستان او د عنوان خبره یوه ده
رانه زړه غواړي که ځان خبره یوه ده

ښکته پورته راته څه ګورې جانانه
د لېمو او د ګرېوان خبره یوه ده

زمونږ قسمت د بیابان دی راته تل چې
د بهار او د خزان خبره یوه ده

بې وسي به يې څېره کړي ور بدله
خو په خوله کې د افغان خبره یوه ده

په هر کونج کې د دنیا چې راورېږي
د سرو اوښکو د باران خبره یوه ده

د لاس کرښې نورې مه ګوره "حسنه"
د تقدیر او د جانان خبره یوه ده





## غزل

د خیال په بیابان مې بهېدې لکه اوبه
ډېر تږی و پکې چې جذبېدې لکه اوبه

هر څو مې که د زړه له سمندره الوتې
بیا هم به په سینه ورښوېدې لکه اوبه

تا کړې چې په پستو شونډو پستې پستې خبرې
ژورو کې د زړه مې خوربېدې لکه اوبه

هر رنګ جامو کې پټ به دې رون ځان چې کړو بېګا
هر رنګ ددې شیشو کې بدلېدې لکه اوبه

چې ګرم مې په اور شو د غمونو، ته هم یاره
له جامه مې د زړه راڅڅېدې لکه اوبه

بېتا به اسویلیو د "حسن" کړې توپاني
څپې څپې یې غېږ کې اوړېدې لکه اوبه

✸

په جسم کلک خو سلوک نرم کوو
هم زورور يو او هم شرم کوو

"حسنه" مونږ که د ساړه وطن يو
خو ښه راغلاست د خلکو گرم کوو

✸

هسې کلک وم لکه تيږه
نه مې ځای و، نه مې بيه
تر قدم د هر لاروي به
ددې ژوند په هی و هوی کې
هسې رغښتم لکه تيږې

خو تا ويلي کړم په غېږ د محبت کې
اوس هغه نه يم جانانه
لوړ ختلی مې قيمت دی
بدل شوی مې فطرت دی
اوس به پام راسره ډېر کړې
زر ماتېږمه، شيشه يم.





## دويم ژوند*

وايي خېټه کې د مور دوه ماشومان وو
يوه له بل نه يوه ورځ وکړه پوښتنه

ته په ژوند له پيدايښت وروسته باور کړې؟
ورته ورکړو بل ځواب چې هو بې شکه
حتماً شته له پيدايښت وروسته يو څه خو
ښايي مونږ به تياري کړو ورته دلته

ورته وويل دې بل چې وروکيه
راته غوږ شه دا نور ټول هسې چټيات دي
ژوند همدلته پای ته رسي د مور نس کې
ژوند به څنگه وي له رحم نه دباندې؟

ورته وويل دې بل چې نه پوهېږم
شايد زياته له دې ځای هلته رڼا وي
مختلفه به له دې بله دنيا وي
ممکن مونږ به په پښو د تگ جوگه يو
هم به کړو په خوله خوراک هم به جرگه يو

دا خـبرې د دې بـل پــه غـوږ درنــې شــوې
وې: چــې تـگ پـه دې نـازکو پښـو محـال دی
او پـه خوله بانـدې خـوراک هسې يـو خيـال دی
زمـونږ تغذيـه د نـو پـه رگ کـې مـونږ تـه رسي
د زيـــږون سره ټـول ژونـد انجـام تـه رسي

ورتـــه وويـــل دې بـــل چـــې زه بـــاور کـــړم
ددې رحــم لـــه دنيـــا شــته څــه دبانــدې
راتـــه پـــاتې دی مـــزل منــزل دی وړانــدې
شـايد ډېـر بــه مختلـف وي لـه دې ژونـده
زه او تــه يــې اوس خـبر نـه يـو لـه خونـده

قناعـــت لا د بـــل ورور نشــو ترلاســـه
خو يـې درونـد غونـدې شو سر لـه ډېـر وسواسه
وې ؛چـې هېڅـوک هـم راغـلي نـه دي دلتـه
چـې احـوال راوړي چـې څـه روان دي هلتـه؟

زېږېـــدنې سره هـــر څـــه تمـــامېږي
پـــه تـــورتم بـــه مـــو بدلـــه زنـدگي شي
لـه دې اخـوا هـېڅ هـم نشته فکـر مـه کـړه
لـه دې رحـم نـه د بـل ژونـد ذکـر مـه کـړه





پـه خـوب کـې يـې ورور وويـل نـه پـوهېږم
خـو بـاور لـرم چـې مـور سره بـه وينـو
د هـر شي بـه بندوبسـت واخـلي پـه غـاړه
زمـــونږ حاجـــت تـــه بـــه تيـــاره وي ولاړه

بـل تـرې وپوښـتل چـې چـيرې ده دا مـور اوس؟
پـه دې هـېڅ هـم بـاور نـه لرمـه نـور اوس

ورور يـې خلاصـه کړلـه غبـره وې: چـې گـوره
هـرې خـوا تـه چـې نظـر کـړې زمـونږ مـور ده
دا اوس هـم مـونږ پـه همدغـه مـور کـې اوسـو
زمـــونږ دنيـــا ټولـــه بسـيا ددې پـه زور ده

نــه ليدنـــه د هغـــې زمـــونږ پـــه ســترگو
پــه نشــتون يــې دلالــت نــشي کــولای
پـه ســکوت کــې يــې اواز شــې اورېــدلی
پـه حواســو يــې وجـود شـې حـس کـولای

زمـــونږ د فکـــر د قـــوت چينـــې دي وچـــې
بيابـــان زمـــونږ د ذهـــن چـــې لا شـــاړ دی
کنـــه وروره لـــه زيـــږون وروســـته زمـــونږه
منتظــــر لــــوی حقيقـــت راتـــه ولاړ دی

* د انگليسي د نثر منظومه ژباړه

✸

لکه بڼکه دې وم سپک په زړه کې
اوس چې راغورځم ترې په ورو راغورځم
بیا دې هم راشي ورځ چې لوېږم له زړه
نه هغه ورځ چې له لېمو راغورځم

✸

چې بې نظمه وي وګړي يوه رمه وي
په نظام سره ترې جوړ فوځي لښکر شي
اوازونه په ترتيب نغمه او ساز شي
خو چې نظم ترېنه ووځي، شور و شر شي

✸

نه بل څوک شي پېژندلی نه ځان ويني
چې د زور او زر په ګرد کې يې مخ پټ وي
هغه څوک په حقيقت کې لوی انسان دی
چې په سترګو کې د نورو خلکو غټ وي





## غزل

شونډې له شونډو نه چې تاو کړي د بوسو لاسونه
زه به دې ونيسم پر زړه ته په لېمو لاسونه

کډې مو راغلې د دردونو د نصيب دښتو ته
راته يې ډک کړل د تنياکو له خېمو لاسونه

خود به مې ستا د ساه وږمې غوړوي ګل د احساس
چې په هر موج يې اړولي وي خوشبو لاسونه

نه مو دمه غواړي د يو بل په يو غېږي سترګې
نه مو په يوځای کې تم کېږي په ليدو لاسونه

ډک چې ترخو پورې وي دلته له وسلو لاسونه
له غريبۍ به خلک مينځي په ايرو لاسونه

غوټې د زړه يې شوې راخلاصې يو پر بلې پسې
چې ورنږدې مې کړل "حسنه" د شعرو لاسونه

## غزل

څو شېبې مې ارمانونو ته رښتيا شه
وارخطا مې په نظر لکه اشنا شه

د وصال سراب په زړه راته انځور کړه
مصور د لمر په څېر په دې صحرا شه

بې له تا، له ما هم لار شي پکې ورکه
راشه راشه د شعرونو مې مانا شه

تنده غوري ارمانونه مې راوړي
څو شېبې ورته اشنا سُراب نما شه

راشه پاڅه چې د مينې لمونځ ادا کړو
هله وخت شو د اذان د زړه درزا شه

بل درمل ددې طبيب په لاس کې نشته
د "حسن" د شعر لفظونه دې دوا شه





## غزل

ستا د ځوانی دغه دوران به نه وي
زړه به مې وي پکې ارمان به نه وي

د شګو بند دی زړه ته لاس مه راوړه
بيا به يې ډېر تړې اسان به نه وي

ځنې دې خلاصې کړه نن شپه پاتې شه
خو رانغښتل پکې د ځان به نه وي

ډېرې کيسې به سرچپه شي هلته
په سر به ځمکه وي اسمان به نه وي

بيا به يې څه کړې نور وطن ته لاړ شه
جهان به وي پکې جانان به نه وي

زړه به اخير تش د جذبو بحر شي
څپې به وي پکې توپان به نه وي

ته هم "حسنه" د عشق خوند وڅکه
هسې ډارن يې دومره ګران به نه وي

✸

شاعري مې هم حصه د طبابت شوه
لکه درد شومه رېبار د پرهرونو

تل مې ګل او بلبل نه وي په غزل کې
پکې ژباړم هم چغار د پرهرونو

✸

تر دې لوېشت کمبخته خېټې دې قربان کړل
څه عجيب د تا ايمان عجيب وطن و

اوس دې سپين احرام له ځانه راتاو کړی
دا به هم د کوم غريب سړي کفن و





## غزل

کچ کېږي نه مذهب د کاېنات په اندازه
ملا غريب ته ښکاري د جومات په اندازه

په حُسن د بربنډو احساساتو وي شکي
چې کړي په محبت کې خرابات په اندازه

سزا مې له ګناه سره سمون نه خوري اشنا!
بېلتون دې کاشکې وای د ملاقات په اندازه

کړه تمه د ښېګڼې ترې د وس په تناسب
کچکول د ملنګ ښه وي د خېرات په اندازه

درونـد پېټی په اوږو مې د عمل نشي اشنا
راباسم چې له زړه نه احساسات په اندازه

"حسنه" ته نيکي غواړي په ژوند له هغو خلکو
چې مړو ته هم دعا کړي د اسخات په اندازه

## غزل

لمن نيول د محبت په کار کې خوند نه کوي
د زړه خبره ده په لويه لار کې خوند نه کوي

ستاد ديدن په ميو چوپ مې شول د زړه غمونه
وې ؛چې خبرې په ژور خمار کې خوند نه کوي

دا مرغلرې دې همدغسې شيندلې ښه دي
د وصل شپه ده د امېل په تار کې خوند نه کوي

پوهېږم ښه دتا په مينه خو خبره دا ده
ما د گودر لارو کې کړي ښار کې خوند نه کوي

اوري سکوت کې هم دريا لکه د زړه د هر شي
د عمر مينه خو په دومره ډار کې خوند نه کوي

په خوله دې ووهه مېخونه يا کړه پام ورسره
سپينې خبرې په دې تور بازار کې خوند نه کوي





ورته راځه يې د غزل د زمزمو په ورا کې
ميلې د اوښکو د "حسن" مزار کې خوند نه کوي

✸

ته مو لمبې د جنگ چې بلې ساتې
ستا به گومان وي چې پخېږو په اور

په حرارت که نور شيان نرمېږي
مونږ لکه خاوره لا سختېږو په اور

✸

پاځه پاځه پسته غبړه کړه راوړاندې
درته راغلمه اشنا زېرى دربانـدې

ستا د مخ د بستر گونځې راته وايي
اندښنې دې راپسې وې لټپلاندې

✸

چې یې ځار کړم ستا تر حُسن
دا لوګی لوګی ساه ګانې
رانږدې مې شه سینې ته
غوږ یې ونیسه درزا ته
سپېلنې د ترکېدلیو
ارمانونو پکې بل دي.

✸

حُسن او فکر نه یوځای کېږي
چې صورت ځوان شي، ذهن یې شوخ شي
عقل سالم شي چې سړی زوړ شي
چې ګل شي مړاوی، تخم یې پوخ شي

✸

ارمانونه مې لا هغسې تازه دي
له مړژواندو ارادو مې دم ختلی
بیا مې زړه د غم باران ته جوړې شوی
چې مې سترګو ته له شونډو نم ختلی





## غزل

یم روان لار تر قدم راسره نشته
سا مې ستړې او زړه هم راسره نشته

سوز د ستړیو اسوېلو مې اندازه کړه
پیمانه بله د غم راسره نشته

دا چې سپکې اوږې ګرځمه بې باکه
بار د هېچا د کرم راسره نشته

ځم په څڼو کې مې ونغاړه صنمه
تور لباس بل د ماتم راسره نشته

په موسکا د بې وسۍ مې دي مینځلي
هېڅ نشان ستا د ستم راسره نشته

په لندو بڼو غزل درته لیکمه
توره شپه ده او قلم راسره نشته

ملګرتیا د زړه "حسنه" راسره ده
ډار له ذهن نه د رم راسره نشته

✸

کله کله مې زړه نه غواړي شعرونه
هسې درد شمه ساتمه پرهرونه

زړه مې ډک شي، کارومه چې "حسنه"
ژبور د پښتنو غونډې لفظونه

✸

یو شعر:

ښه به نه دربانډې لګم خو دا واوره
لکه درد دې خبروم له پرهرونو





## غزل

مینه مې اور شوه تر ټټر به ووځي
ستا تر لمن لکه شرر به ووځي

ورسره غم زمونږ د خیر نه و
شر ته راغلي دي په شر به ووځي

خیر دی پر مخ راته څپیړې راکړه
ژبه در تم کړه تر ځیګر به ووځي

دا کیسه پرېږده کومه بله وکړه
د زړه خبره ده بهر به ووځي

"حسن" لري ستا د یادونو باغچې
زړه یې که تنګ دی په چکر به ووځي

یو شعر:
تنهایي مې چې اشنا پسې راواخلي
ستا د قبر د جنډې شغا ته راشم

## غزل

زه وم ښه که زندگي راسره ښه وه؟
وړکتوب و بې باکي راسره ښه وه

سرمايې د مينې ډار راسره مل کړو
کاش چې نه وای غريبي راسره ښه وه

خودغرض دې کړم زاهده هر څه شمارم
بې پروا وم عاشقي راسره ښه وه

اوس بلها دي پخوا يو د کچکول غم و
ښه وه ښه وه ملنگي راسره ښه وه

دلته ټول "حسنه" پټ دي په پردو کې
دتا لوڅه شاعري راسره ښه وه





✸

که خوله وي او که پرخه
يا اوبه د سمندر وي
لمر راټيټ شي پرې له پاسه
په ورغويو کې د وړانگو
ژی د وريځو ترې نه ډک کړي
د افق بام ته يې يوسي
بيا يې واړوي په سترگو د فضا کې
نن چې ومې کتل تاته
راته داسې شوه جوته
چې دا غم د بې وسۍ هم
په فطرت کې لکه لمر دی
شونډې وزبېښې ناترسه
نم ترې يوسي پاس لېمو ته

**يو شعر:**

شي مرووره زه ترې لاس چاپېر کړم
څه په هنر غېږ ته پلمه جوړه کړي

✸

زه یم زړه ،ګړۍ ګړۍ تل
درپسې کړم اوازونه
ته یې ساه ډېره ستومانه
لا راغلې نه وې، درومې
دا جې ځي راځي پکې ساه
او درزېږي پکې زړه هم
شاید ژوند به ددې نوم وي
محبت به یې مفهوم وي.

✸

ستا کبرې وړې خبرې
لکه ولونه څنې
ما ساده سیده سړي ته
جال دي جوړ کړو لکه غنې

✸

ستا تصویر د مخ د شمع پکې رڼې
چې مې سترګې دي نن بیا ډکې له نمه
د "حسن" د شعر لفظونه بل څه نه وي
خوبس اوبښکې دي څڅېږي له قلمه





## کلیزه

ستا کلیزه وه جانانه
ما وې: څه درته ډالۍ کړم؟
ټول صندوق مې وتوشپلو
هره غوټه مې کړه خلاصه
هم بازار ته پسې لاړم
نه کوم شی دتا د شان و
نه په جېب کې مې توان و
اخیر پام مې شو "حسنه"
چې په خواره زندګۍ کې
بې له زړه راسره څه دي
چې تر تا یې صدقه کړم
ما وې: وی تر تا مې جار کړې
چې دا هر څه درسره و
او ته بیا هم لالهانده
په لټون ددې نړۍ وې
بیا خو هسې لېونۍ وې

## غزل

د موسکا په خوله حجاب لري دا خلک
که سينو کې اضطراب لري دا خلک

يوه ورځ به په ټغر ورسره کېنې
هم حساب او هم کتاب لري دا خلک

څوک په يوه څوک يې په بله غاړه درومي
د تعصب ترمنځ درياب لري دا خلک

نه يې زړونه له خبرو معلومېږي
نه سينې لکه حباب لري دا خلک

شمېر له بل نه د غوښتنو ورنه هېر وي
پيرزوينې په حساب لري دا خلک

بې وسې ته هک حېران سر په زنگون دي
نه پوښتنه نه ځواب لري دا خلک





راته نوم د لېوني اخلي "حسنه"
څومره ښکلی انتخاب لري دا خلک

✷

هېڅ يې صبر چېرته نه شي
څه کوچی غوندې مې سوچ دی

کډه غم ته وړي له غمه
بار يې بيا په اوږو کُوچ دی

✷

راته وړاندې مې ژړا وي ورپسې يم
چې په خاوره کې دې ږدمه پل په اوښکو

په لستوڼي کې مې مار وو خبر نه وم
دا چې لوند وي اوس وطنه تل په اوښکو

## غزل

دتا سترګې بڼورې راپسې دي
کور په کور چې اوس خبرې راپسې دي

ژبون وهلی به مې درولې جانانه
د تودو اوښکو لښکرې راپسې دي

په نڅا مې د لندن له ښاره بیایي
د وطن د غرو سندرې راپسې دي

د شېطان دي په لاسونو او په تن کې
د مذهب تورې او زغرې راپسې دي

په سينه مې خېروي د نن په لوړو
د پرون ډېرې ژورې راپسې دي

تر ډېرو سخت ګوزار لري "حسنه"
د چا اوښکې مرغلرې راپسې دي





## د لوی استاد محمد صدیق پسرلي په یاد

ډېر ګلونه شاعران پکې زرغون شول
راز دشعرد دې ګلشن يو پسرلی و

سر و کال به يې خوشبو د روح خوره وي
که ژوندون د ګلبدن يو پسرلی و

✸

که له تخم نه تش تخم زېږېدلی
نه به رنګ و نه به بوی تلو له چمن نه

د کوچني پلار نه ستر زوی ته حېران مه شه
کله کله سيوری لوی شي له بدن نه

## غزل

د وصل تندر او هوا څنګه وي؟
د زړه درزا او سترې ساه څنګه وي؟

راشه خبر زما د اوښکو واخله
چې جنازه د تمنا څنګه وي؟

په وړکتوب کې مې کيسو کې لیده
جنګ راښکاره کړه چې بلا څنګه وي؟

چې تړې نه خلاص وي هغه څه پوهېږي
چې د فکرونو واويلا څنګه وي؟

په انتها کې يې ښکاره شوه راته
چې دا د ستونزو ابتدا څنګه وي؟

زما د اوښکو له ملهم نه وروسته
دتا زخمونه بې دوا څنګه وي؟





لږ اسويلي مې د سينې وګوره
چې برېبوکۍ ددې بيديا څنګه وي؟

راځه مئين شو چې دا هم وګورو
چې د ړندو خلکو دنيا څنګه وي؟

وې: چې "حسنه" دا د مينې تبه
ما خو، خولې کړې چې په تا څنګه وي؟

✸

هر ځای يې ذکر کړو د شونډو د خوند
ښکلي مو خوا ته لا راغلي نه دي

لکه "حسنه" پښتانه شاعران
ستايو شراب خو لا مو څکلي نه دي

## غزل

ډېرې کړې ستا د نظر لارې دي
نه ځم اشنا دا د خطر لارې دي

نور ښکته پورته بانه څله کوې؟
اوس خو يې جوړې تر ځيگر لارې دي

تسله وار وکړه بې صبره نه شې
څړيکو ته پاتې د پرهر لارې دي

که مې په زړه کې اوسېدلی نه شې
ډېرې وتلې ترې بهر لارې دي

وړوکي ځان ته ترې نه لار ورکه ده
جوړې انسان د غره په سر لارې دي

تهاکو ورانې د لاس کرښې نه کړې
بخت راته جوړې په کمر لارې دي





غر راپرې وتی پرې د مرگ "حسنه"
بندې د عمر د سفر لارې دي

✷

شکر درمل د لېونتوب مې وخوړ
کنه فکرونو به وژلی ومه

که د حېوان په خوراک نه وای لگيا
دې انسانانو به خوړلی ومه

✷

په چاک گرېوان کې مې څه گټه وينې
راته له لرې چې موسکي دي خلک

ورسره نه کړمه حساب "حسنه"
په لېونتوب مې چې راضي دي خلک

## غزل

نظر مې وکړه پکې منډه اشنا
له ګونځو پاکه دې شوه ټنډه اشنا

لاړم د غم د بدلولو ښار ته
رامې وړه بیا د خپل غم پنډه اشنا

راځه چې پریکړې ته یې غاړه کېږدو
جوړه د سترګو به کړو غونډه اشنا

له تا نه مخکې درته ما وخندل
څومره مې لار کړه درته لنډه اشنا

د "حسن" اوښکې به دې خود لندوي
ته چې د بحر ځې په څنډه اشنا





## غزل

په غم اخته یم ما له خوبه یاره مه وباسه
بنګړي مې پرېږده ما له دې خُماره مه وباسه

بې له موسکا دې هم درتلی شمه تر زړه جانانه
هسې دې نورو ته په شونډو لاره مه وباسه

قفس دې خلاص کړه د سینې چې مې ترې زړه والوځي
نور د هسکینو غرونو باز له ښکاره مه وباسه

دواړه اندې یو تر منزله به یوځای یو سره
کوږ به شي یاره ما د ژوند له باره مه وباسه

هسې نه ورک مې درنه زړه شي پرې زخمي به کړې نور
دا نرۍ ستنه د بڼو له تاره مه وباسه

د شعر ګلونه دې وړه بل ته د الهام ښاپیرۍ
د زړه په غم اخته "حسن" له کاره مه وباسه

✸

اخير پيدا يې كمزوري كړه زما
چې يې ارمان سره په جنګ اخته كړم
حُسن يې وسپاري "حسنه" پر ما
اوس يې له ځان سره په جنګ اخته كړم

✸

لكه اور سوځوي قام خپل
نه يې وچ او نه لوند ګوري
ترې په شا به شي اخير هم
د لوګي غونډې مختوري

✸

په ژړا مې دې لېمې لكه شفق واى
چې په برخه مې ماښام د محبت واى
يو عذاب دى مسلسل ،كاشكې "حسنه"
د هر درد غونډې انجام د محبت واى





## غزل

ته به تر كومه پټوې رانه تصوير د اوښكو
هره سلګۍ دې كړي اشنا راته تفسير د اوښكو

زما د لېمو د دروازې شاته ولاړه اشنا
راځه دننه شرنګوې ولې زنځير د اوښكو

ددې تالا ښار د شبخون كيسه به څه هېره شي
په هر ګرېوان باندې يې پاتې دى تحرير د اوښكو

خدايزده چې چاته به وروړي د زړه ناكړې كيسې
چې په كنډو يې د رخسار ښكاري بهير د اوښكو

هسې "حسنه" څڅوو توروې اوبه پر زمكه
نه مو بدل شته د خولو نه مو تاثير د اوښكو

## غزل

د خوبونو به تعبیر راسره نه وای
که لېمو کې دې تصویر راسره نه وای

د غزل په کرلېچونو کې به ورک وم
که دا ستاد مینې پیر راسره نه وای

کور په کور غواړم خیرات ورته د مینې
کاش چې زړه دومره فقیر راسره نه وای

د ژوند شپه مې ستا تر زلفو رسوله
مل د لارې که تقدیر راسره نه وای

خالي ژوند ته مې د خپل زړه درزا بس وه
که د هیلو لوی بهیر راسره نه وای

ما به څه کول د اوښکو زنځیرونه
که دا ستا لېونی ویر راسره نه وای





نور مې هېڅ له خدایه نه غوښتل "حسنه"
یا مې بخت وای یا ضمیر راسره نه وای

✸

زړې هېرې کړې چې نوې وځلېږي
دلته خلک حافظې په وینو مینځي

مخ د کوم قاتل وروښایم "حسنه"؟
د تاریخ چې ایینې په وینو مینځي

✸

له سربازه یې چې وینه او ساه باسي
د وطن اب و هوا ده پرې حرامه

هوا سا اوبه شیدې ددې وطن دي
هم اوبه هم پکې ساه ده پرې حرامه

## غزل

محبت مې د وصال جامې اغوستي
نن مې تېر عمر د حال جامې اغوستي

رڼاګانې دې ورواغوستې تیارو ته
ماښامونو د مشال جامې اغوستي

ته هم سره سپینه راووځه په باران کې
اسمان هم د بوډۍ ټال جامې اغوستي

پښتانه لا په لباس پېژني خلک
مغل ځکه د "خوشال" جامې اغوستي

د غم سیوري چم ته راغلل ته روان شوې
تکې تورې هر دېوال جامې اغوستي

حقیقت څه دی اشنا؟ پروا یې نه کړم
هر نظر مې ستا د خیال جامې اغوستي





زه یې پېژنم "حسنه" بل څه نه دی
زوړ قسمت د نوي کال جامې اغوستي

✸

شمېر مې ګونځې کړه د مخ چې درمعلوم شي
چې په هجر کې مو څومره وخت تېر شوی

اوس چې مینه له مودو پس رانه غواړې
هم ترتیب هم یې انداز رانه هېر شوی

✸

تا چې نن په ټیټېدو ځان ته عادت کړل
بیا به بل ته هم ټیټېږي دا سرونه

په پسته ژبه یې فکر وربدل کړه
نه بدلېږي په ډبرو دا سرونه

## غزل

له رڼا ډکې لېمې دې رانه يووړې
شپې دې پرېښودې ډېوې دې رانه يووړې

بې منطقه دې په ژوند باندې مئين کړم
زړه چاودونکې فلسفې دې رانه يووړې

ستا راتگ او پسې تگ څه وو جانانه
شوق دې راووړ، تماشې دې رانه يووړې

رپېدل دې په لېمو کې تصويرونه
له اوبو جوړې ايينې دې رانه يووړې

وې :خالي رانه "حسنه" نه يې تللی
تش راغلی وې، کيسې دې رانه يووړې

**يو شعر:**
کاش چې دې وحشت را زياتولی نه
نه غواړو تهذيب د وخت بهيره مونږ





## غزل

ما پرهرونه در سپړلي نه دي
تا مې په سترگو کې لوستلي نه دي

د اوښکو څاڅکي دې لا مه وچوه
د غزل تار کې مې پېيلي نه دي

د توغنديو دوزخ څه پېژني؟
د دوی په کور باندې لوېدلي نه دي

ښه ده چې خيال ته خو راځې جانانه
ټول تعلقات دې لا شلولي نه دي

د چا د مخ په کريم کې گډ وي بادام
چا له نږدې نه هم ليدلي نه دي

د ژوند خيرات خلک له چا وغواړي
په کوم يو در کې ودرېدلي نه دي؟

زما په شعر چې ګرځي سر وربانديږ
د مينې ټال کې زنګېدلي نه دي

خوښې دې وړه رانه، مونږ خپل دردونه
په دې قيمت کله پلورلي نه دي

د مساوات دې شي کور رنګ "حسنه"
چې يې کړي هغوی خوړلي نه دي

✸

بې له جنګه ګوزاره شي راته ګرانه
رانه لاړ چې شي پردي اخته په ځان شو

خپلې اوښکې له مودو څښو "حسنه"
په تروو اوبو عادت لکه کبان شو





✸

چې مې غلې خوا ته کېنې
ټيټې سترګې راته ګورې
نه څه وايې نه څه وايم
نه اړتيا وي د ويلو
هر خوځون د اندامونو
ترجمان د ارادو وي
زه چې بل طرف نظر کړم
ته سا واخلې زړه درغټ کړې
په ورو نوره رانږدې شې
په زنګون مې ګوتې کېږدې
هر يو رګ مې په بدن کې
لکه تار د رباب ناڅي
هره خوا ته په هوا کې
ترې نغمې د شباب څاڅي
لنډه ساه دې نری باد شي
په سينه زما لګېږي
په ورو ورو مې زړه ته راشي
د څپو لمن خوره کړي

پکې واچوي دردونه
له زړه  یوسي دا گردونه.

✸

چې تعصب سره دې فکر وده نه کړي
په غنمو کې جودر دي راشنه شوي

تش په نوم د مارغه نه شي الوتلی
څه که چرگ پورې وزر دي راشنه شوي

✸

خوله مې له تندر د سلگو وي ډکه
سترگو کې تل د اوښکو نم گرځوم

تا ته دې لمر وي د خندا مبارک
پرېږده چې زه د غم موسم گرځوم





✸

د طبیب او د ادیب خبره نه ده
یو اخلاص کړم بل مې مور راته دعا کړي
که نسخه او که غزل لیکم "حسنه"
خدای یې درد د رنځورانو ته شفا کړي

✸

مجبوري دې چې په عذر باندې اړ کړي
طبیعتونه شي اوتر دلته د خلکو
برسېرن به رواجونه شي "حسنه"
چې فکرونه شي ژور دلته د خلکو

✸

لکه خپله علامه یې په ملا کوږ کړم
خو سوال د ژوند لا جگ راته ولاړ دی
غواړم ژوند کې لا پایښت د ژوند "حسنه"
له هوا ډک لکه څگ راته ولاړ دی

د کفیل ازر د اردو شعر "بات نکلے گی تو بهت دور تلک جائے گی" پښتو ژباړه

## ډېره لرې لرې

که راووته د باندې څه خبره
گوره لاړه به شي ډېره لرې لرې
د خپگان سبب به پوښتي درنه خلک
دا به هم پوښتي چې ولې پرېشان يې
وبه نيسي وچ ويښتانو ته دې گوتې
تېر کلونو کې به وځغلوي سترگې
په بنگړيو به د طنز غشي درپرېږدي
لړزېدا به دې د گوتو مسخره کړي
کړي پېغور به ظالمان هره خبره
په خبرو کې به نوم زما هم واخلي
په خبرو يې چې هېڅ باور ونه کړې
کنه پوه به له تاثر نه ستا د مخ شي
څه چې هم وي چې پوښتنې هېڅ ونه کړې
زما په هکله چې خبرې هېڅ ونه کړې
که راووته دباندې څه خبره
گوره لاړه به شي ډېره لرې لرې





## غزل

غزلې مې په عشق کې جادوگرې شوې که نه
خبرې ستا د زړه پکې سندرې شوې که نه

تا نه منل چې تښتي له لوی غم نه ژړا هم
له سترگو نه دې اوښکې مرورې شوې که نه

وې: بس ده که درپورته کړمه بيا غزالې سترگې
قافيې د شوخ غزل دې برابرې شوې که نه

ساتې که بې قلمه تش په زور بيا خپلواکي
تباه خو پخوا هم دلته لښکرې شوې که نه

ما وې ؛درته وطن له وروره چا نه دی گټلی
درنې پېغلې د چم دې گداگرې شوې که نه

دانې دانې دې وصل کې د غاړې شوې، خو تلم چې
خورې دې بيا د اوښکو مرغلرې شوې که نه

ما وې درته چې هېره مې فضا کړه د يادونو
اوس ستړې دې د خيال پکې وزرې شوې که نه

ته هسې وې ډاډه د خپل غرور پر ځواک "حسنه"
جذبې د محبت پرې زورورې شوې که نه

✸

هسې نه چې شوم يوازې بې له تا نه
خلک شته خو زه په بل نظر ورګورم

د رنګونو ماناګانې پکې وسوې
ګل ته هم اوس په شډل نظر ورګورم





## غزل

ژاړي سترګې کړي ايسارې په اوبو کې
هسې نه چې شي بيمارې په اوبو کې

فريادونه دلته اوښکو کې نور څه وي؟
وي د ډوب سړي کوکارې په اوبو کې

غم خوښي مې په څېره کې داسې پټ شي
لکه لوړې او اوارې په اوبو کې

ستا لندو سترګو کې اور ولې بلېږي؟
سرې لمبې خو شي کرارې په اوبو کې

په دې اوښکو کې دې زړه ته څنګه درشم
جوړې چا دي ياره لارې په اوبو کې

تصويرونه د "حسن" پکې رپېږي
دا ليمې دي که هېندارې په اوبو کې

## د ټولټاکنو پر مهال

نن نکريزې رانه مه غواړه جانانه
نن وطن ته په شنه رنګ ګوتې لړمه

چې وطن مې په سينګار نشه نشه شي
بيا به تاته په سره رنګ ګوتې لړمه

✸

اشنا راغى دروازه کړه پسې بنده
بوراګان به له باغونو پسې راشي

بس دى بنده کړه شپېلۍ د شعر "حسنه"
تور ماران به له غارونو پسې راشي





## غزل

هره ورځ يې بدلوې لکه خالونه
شوې اشنا دتا نېټې لکه خالونه

دا له تا سره سيالي کړي، چې په ټنده
ړنه ستوري ايښي شپې لکه خالونه

څه که ګډوډ مې سينګار شو خو دتا هم
شوې دانې تسپې لکه خالونه

سوړ سلوک مې د اشنا اوښکې کنګل کړې
چې پر مخ مې دي پرتې لکه خالونه

خط و خال به يې هيرېږي رانه څنګه؟
په هر خط کې يې نقطې لکه خالونه

زړه دې مور په مينه شو که نه "حسنه"؟
چې داغونه يې شمېرې لکه خالونه

## غزل

تورې شپې ته مې چې لمر نه يې نو څه يې؟
مصور چې د سحر نه يې نو څه يې؟

بې وجوده يو احساس مې يې په زړه کې
نو چې درد ددې پرهر نه يې نو څه يې؟

چې دې نه وينمه سر راباندې گرځي
ته او خداى چې ډک ساغر نه يې نو څه يې؟

چې رقيب راشي زړگيه په درزا شې
نو چې ته د زنگ خطر نه يې نو څه يې؟

بانه غشي، وروځې تورې، سترگې زغرې
تيارسى د جنگ لښکر نه يې نو څه يې؟

چې څپه د شوق دې نيسم بله راشي
چې د مينې سمندر نه يې نو څه يې؟





لمر مې يوسې د موسکا اوښکې مې راشي
ته د وريځو تور څادر نه يې نو څه يې

چې ښاېست دې پټ "حسنه" دى په تن کې
په صدف کې چې گوهر نه يې نو څه يې

✸

چې د غم له اوره ځان راټولوومه
لمبې غلې شي سپرغۍ ته نوبت ورکړي

بس په ما باندې لگيا دي تل "حسنه"
غم چې سترۍ شي خوښۍ ته نوبت ورکړي

## غزل

زړه دې بدل شو که بدل دې شو لباس جانانه
له ډېره وخته راسره دی دا وسواس جانانه

ته به ترڅو پرې وروې د ترمو اوښکو کاږي
وي به ترڅو درته ايينه زما احساس جانانه

خير دی که راغلې پکې ټيټې جگې نه ورانېږي
ما په پښتو د مينې ايښی دی اساس جانانه

کله هم دومره الويزانده زما اوښکې نه وې
د کاږي غر وم محبت دې کړم حساس جانانه

ويل يې په ژبه د خوشبو چې په دې لوري لاړې
کړه اشاره راته هوا د موج په لاس جانانه

ستا د بېلتون د غم لوخړو خداېزده چېرته وړي
څنگه راټول کړم درته بيا خواره حواس جانانه





کاش چې هر څه د سترگو مخ ته وای خو داسې نه ده
"حسن" ته گوره څومره گوري کوز او پاس جانانه

✸

که هر څو يې څپې وشيندي "حسنه"
اخير يوځای شي خځلې په اوبو کې

پليتي د بد فطرتو نه ورکېږي
چا چونگښې دي مينځلې په اوبو کې

✸

شور د چمچو او د کاسو کې خانه
د وږې خېټې کړيکې اورې که نه

دا د تڼاکو له شلېدلو خېمو
د تاندو څړيکو کوکې اورې که نه

## غزل

خدای ته ګوره نن له مانه چېرته مه ځه
زړه مې درد کوي درمانه چېرته مه ځه

خیر دی نه به مرو له لوږې، ډزې کېږي
ټوله ورځ به یم پرېشانه چېرته مه ځه

بې له تا چې د ژوند پېټی په اوږو وړم
شي به ګرانه په ما ګرانه چېرته مه ځه

شپه مې بیا کور ګډی خوب لیده چې مړ یې
خدای دې وه! زما جانانه چېرته مه ځه

که اسباب د غم ښادۍ درځني ورک وي
ستا په زړه کې دي انسانه چېرته مه ځه

وې: د خلکو د خندا به شي "حسنه"
په لټون مې بې له ځانه چېرته مه ځه





## غزل

چې زړه دې کېږي ځوروې مې ولې؟
په دار د صبر زنګوې مې ولې؟

چې خورې یې نه نو پخوې یې ولې؟
چې رانه ځې نو مستوې مې ولې؟

په لمس پرده د حیا نه ماتوې
هسې په سترګو شرموې مې ولې؟

په بام راواوړه مناره خونه ده
په لویه لار کې ودروې مې ولې؟

چې مې په لار د نظر ځې رقیب ته
لکه ګردونه بادوې مې ولې؟

پرېږده! ژړا ته راکې دم پاتې شي
چې رانه ځې نو خندوې مې ولې؟

د پلار په کور يم لکه گل په ډنډر
نور مې در پرې کړه بويوې مې ولې؟

"حسنه" بس ده قلم جيب ته يوسه
په هر غزل کې لوڅوې مې ولې؟

✸

له غزل نه يې زړه تور دی
نن دې غم په "حسن" زور دی

د بلبل غږ پکې ورک دی
د خزان د پاڼو شور دی

✸

ستا په خيال کې شپه وهمه
د خوبونو بار په غاړه

ستا که تل په زړه کې نه يم
څو شپې مې پکې نغاړه





✸

په غمکده کې هم يوازې نه يم
د غم تکرار دی، غم شريک راسره
غم ته دې اوښکې زنځيرونه شوې اوس
تا چې تړی په تار باريک راسره

✸

په زړه چې ښکلې وې، له وخته سره
حُسن يې کم شي لا خوږه شي درته
د ميوه دارې ونې گل غوندې وي
کله چې مړاوي شي، ميوه شي درته

✸

چاته د ژوند د سوال ځواب شي مينه
چاته شراب، چاته عذاب شي مينه
ستا د ځوانۍ د ځپو شور ته راشم
په دې درياب کې هم سراب شي مينه

## غزل

سپين راباندې مه وايه مغرور به شې
حُسن بلا زور لري مجبور به شې

زه د عشق ساري تبې نيولى يم
لرې رانه ځان ساته رنځور به شې

تخت د منتونو ما ليدلى دى
نوم به دې پاچا شي خو مزدور به شې

کېنه زوروره دمه جوړه کړه
وار به دې د جام راشي مخمور به شې

کړې دې درملنه په تقسيم د واک
زخمه د وطن د وېش !ناسور به شې

ته چې له بهر نه خوشحالي غواړې
خداى خبر "حسنه" چې مسرور به شې





## غزل

هر وګړي ته اوږد لاس لکه ايينه کړم
د تصوير درد يې احساس لکه ايينه کړم

هم بدرنګ او هم خوش رنګ ترسيمومه
نه پروا او نه وسواس لکه ايينه کړم

بيا هم عکس د زماني پکې معکوس وي
که رڼه ورته حواس لکه ايينه کړم

چې پرې لنډ مې شي څادر د زړه د سيوري
د غم لمر يې انعکاس لکه ايينه کړم

بيا مې هم هر يو له زړه تښتي "حسنه"
ګرد الود پسې لباس لکه ايينه کړم

**يو شعر:**

سپينه ورځ کړې توره شپه په ځان "حسنه"
يادوې چې تورې سترګې، تورې ځنې

## دزړه غولی

ولې بیا یې ژړغونی
شابه پاڅه دلته کېنه
زه هم زړه لرم هم څړیکې
سترگې مه موښه جانانه
هر یو درد به درنه واخلم
چې دې سپک شي د زړه غولی
مخ راواړوه دې خوا ته
گوره گوره ته لا بیا هم
په سلگو کې پړمخ پروت یې
پاڅه پاڅه زړه درغټ کړه
هېڅ مې نوره توخته نه شي
د زړه غوټې کړه راخلاصې
زه له هغو ځنې نه یم
چې په تله کې د زړه مې
د چا پنډې د دردونو
د خپل ځان د کاڼي کاڼي
غم او درد سره تلمه
ستا که سپک هم دي له مانه





بې له توله او بې ناپه
هر یو درد دې په ما گرانه
په بها د اوښکو اخلم.

✸

نومیالی وي تر یو وخته
چې پیاوړی څوک د جنگ شي

خو چې کړنگ د سیکو وشي
ورک د توري پکې شرنگ شي

✸

ټول حواس دې پکې ډوب کړه
له وصال واخله خوندونه

څوروي به دې هر وخت بیا
دا شپې به شي یادونه

## غزل

د ټول عمر د تاريخ تاليف مې ته يې
خو غېرته! بيا هم لوی حريف مې ته يې

هسې څه مې ګرځوې په طبيبانو
بل مې رنځ نشته اشنا! تکليف مې ته يې

ويني خلک مې خندا ګونځې تنديه!
خو د ژوند د حادثو ارشيف مې ته يې

چې څه هم وايم په پای کې دې نوم واخلم
د خبرو د غزل رديف مې ته يې

واخلي نوم خلک زما خو ګوري تاته
زه "حسن" يمه يو لفظ، تعريف مې ته يې

**يو شعر:**

لاس ګرېوان وي په خپل منځ کې دا وګړي
خو چې تاته کړي نظر په يوه خوله شي





## غزل

پنجره کې د بڼو مې زړه اسير دی
پروت د اوښکو يې په تن کې چې زنځير دی

د لفظونو په ټاکنه ملامت يم
په لهجه مې د زخمي احساس تاثير دی

څه کاني وشوې په جنګ کې په دې خلکو
د چا جسم دی مفلوج د چا ضمير دی

زه يې غواړم ده ته کور ته مينه ورشي
دا توپير ددې فقير او ددې پير دی

پېژندلی مې څوک نشي مه ډارېږه
په محفل کې مې دې ياره رنګ تغير دی

سرګردانه دي ايينې پسې د سترګو
هر تصوير دې د "حسن" د شعر تعبير دی

✸

له ما نه تللی درد به چېرته لاړ شي؟
اخير به بيا زما ځيګر ته راځي
په سمندر که باران ونه اوري
"حسنه" بيا هم سمندر ته راځي

✸

لور يې ويلي کړ، خنجر يې ترېنه جوړ کړ
دلته جنګ د رزق ګټلو وسيله ده
هره غوټه کش کوي خولې ته يې نه وړي
پښتانه راخيستې داسې مشغله ده

✸

**يو شعر:**
په نشه باندې تورن شومه "حسنه"
صداقت دلته صفت وو د چرسيانو





## غزل

چې ورځې د رڼاګانو په احرام کې
له کعبې د عشق څه غواړې په انعام کې؟

خوله دې خولې ته رانږدې کړه جل مې اخلي
لکه لمر غواړم اوبه د ګل په جام کې

په کمځو کې يې زما د لاس ګل کېښود
د بخت ستوری مې راوخوت په ماښام کې

ژوند ژړا نه تر سلګو پورې واټن و
نه يې خوند و په اغاز نه په انجام کې

پوه شه، سر پکې خوړلی تمدن دی
چې د جرم سزا زياته شي په قام کې

تل سندرې د الفت وايم "حسنه"
نه ستړېږم، نه زړښت لرم په پام کې

## غزل

ياره !ستا ټکور نظر لاره بدله کړه
هسې مو دردونو د پرهر لاره بدله کړه

ما خو د بڼو تر چنارونو اوښکې راوستې
تا په نيمه لاره د ګودر لاره بدله کړه

غوټه مو دردونه په تنهاکو کې وو تلو پسې
څه وکړو ملګرو چې رهبر لاره بدله کړه

بيا به هم قدم په قدم واوښتو په شر باندې
هر څومره که ډېر ځلې بشر لاره بدله کړه

تور مچان يې بيا سپينو شکرو باندې کېناستل
مونږ چې اخير بيا د پېښور لاره بدله کړه

باد د اسويلو دې بيا له مخه څنې ټولې کړې
بيا دې تورو وريځو له سپين لمر لاره بدله کړه





څومره دې د ژوند تودې سرې "حسنه" تيرې کړې
نه دې شو زړه زوړ، نه دې هنر لاره بدله کړه

✸

ستا محل زما جونګړه به شي پاتې
مختلف زما او ستا لحد به نه وي

دا قيامت مې بس په دې خبره خوښ دی
چې د خان او د غريب سرحد به نه وي

✸

ته چې خفه شې په ما شعر راولې
ته چې پخلا شې زمزمه يې کړمه

پرېپرده سکوت د تنهايي مې مات کړي
غم دې راپرېپرده چې نغمه يې کړمه

## غزل

زما په شور خوله د قلم پخه شوه
ستا اراده لا د ستم پخه شوه

ترې نه مې تات شول د بڼو ښاخونه
مېوه د اوښکو مې په غم پخه شوه

چې تله تر شا يې راته پټ وکتل
د بل ديدن وعده يې هم پخه شوه

اوس مې نغمې نيسي د څڼو ماران
اوس مې هوده د زير و بم پخه شوه

په خامه خوله يې کړه شروع "حسنه"
شپه يې د څڼو په تورتم پخه شوه

**يو شعر:**

غوړوو يې کله سوال ته کله اوښکې کړو پرې پاکې
نور مو هر څۀ رانه لوټ کړو دا لمنې خو راپرېږدئ





✸

د ژوندي احساس څښتن ته کړه خبره
تش د ګور په تېره مه ليکه شعرونه

چې په ژبه يې د څرېکو نه پوهېږي
ورته مه سپړه "حسنه" پرهرونه

✸

دلته يې شهيد بولي خبر اوسه
نوم به د قاتل ګوره په پام اخلې

څومره يې چې خلک ډېر وژلي وي
هومره به يې نوم په احترام اخلې

## غزل

تېروووم چې د هر چا تراخه د سترګو
راسره دي ياره ستا خواږه د سترګو

چې راوګورې د ژوند چارې شروع کړم
لمر خاته دې شو اشنا کاته د سترګو

هېڅ دې تنده د غمونو نه ماتېږي
ورکوم ګهيځ بېګاه اوبه د سترګو

يو نظر بل پکې اوښکې وې جانانه
مونږه وبابلل په تا هر څه د سترګو

چې مو کومې خوا ته بيايې درپسې يو
غلاماني دي دوی ستا او زه د سترګو

د بېلتون ګرد دې تصوير وړي له لېمو مې
له ايينو مه شي پناه د زړه د سترګو





چې مې خلک ستا په لوري نظر ګوري
دوی يې تور بولي د غلا او ته د سترګو

د ککو ډېوې يې بَلې دي "حسنه"
چې يې تور دي لوګي بيا بانه د سترګو

*

کسي يې واړول بڼو ته يې ځم
لا يې ژوندي دي پښتانه د سترګو

تري دي ور به کړم د اوښکو اوبه
شول مې غمونه مېلمانه د سترګو

*

په غم چې خور کړم لنډ څادر د خندا
سر يې شي پټ پښې يې بهر راووځي

زړه مې دې زړه کې په غم نه مړېږي
ورته نهر راشي، نهر راووځي

## غزل

نخښه راسره د ديدن پاتې شي
ستا خوشبو د تن مې په تن پاتې شي

شونډې مې چې شونډو ته درورسي
څومره به تر تا لا واټن پاتې شي؟

څنډ وهه له زړه نه بد خويونه ژر
خيري شي چې گرد په لمن پاتې شي

مخ که په حرام صابون هم ومينځي
زړه خو به يې بيا هم خيرن پاتې شي

اور شي په هر گل پورې خندا خپله
چېرته چې گلچين ته گلشن پاتې شي

مونږ له دې وطنه شوکوي ځکه
بس چې دې قصاب ته خرمن پاتې شي





لوټ له قدمونو منزلونه شي
چېرته چې له چا نه وطن پاتې شي

ډېر کارونه داسې وي "حسنه" چې
گرانه وي سبا ته چې نن پاتې شي

**يو شعر:**

تش دا ستا د غم کيسه نه ده "حسنه"
يو داستان دی تکرارېږي په بيا بيا

## غزل

د وژنې یې ترمنځ داسې سیالي ده
ته وا قتل ددې خلکو مجبوري ده

د نظر غوټې دې مه پرانېزه یاره
په دې چم کې لا په مینه پابندي ده

له دریاب د اوښکو نشم دروتلی
لکه کب مې په اوبو کې زندګي ده

د اشنا د بېلتون اوښکو !صبر وکړئ
لا ځنډېم د خولو اوښکې مزدوري ده

د ښکلا غوټې دې پرانېزه لږ تم شه
د زړه لاره کې د سترګو تالاشي ده

یو مو ژوند په خپله لویه مجبوري ده
بل راځوړنده پر غاړه غریبي ده





ته وې سیوری د روانو وریځو تېر شوې
په ما لمر د بېلتون بیا جوړه ګرمي ده

نا اشنا یې ورته توري دي "حسنه"
هر چا لوستې مې غلطه خاموشي ده

✸

په سپین لاس کې یې سور ګل راته نیولی
نه پوهېږمه چې سپین واخلم که سور؟

د مخ اور ته یې په یخه شپه کې راغلم
کړم لمبې ترېنه راټولې او که نُور؟

✸

منل دې نه، راشه خبر یې واخله
څومره جنون پکې موجونه وهي

زړه دې په مراندو کې "حسنه" ګوره
په زولنو کې هم ټوپونه وهي

٭

اوس خو مې سترګې دي کاسې د اوښکو
تر هغه دم وې د ليدو لپاره
يوه شېبه ده، تا وې: تېره به شي
اوښکې يې راوړې د مودو لپاره

٭

وې: لويه لاره ده لمن مې پرېږده
مور راسره ده رانه ولاړه نه شي
کور کې به کېنو د اوربل سيوري ته
دزړه خبرې په ولاړه نه شي

٭

بل هر تن دې پکې ځلي
جګړه مار پکې اباد دی
جنتي خاوره کې اوسو
هر فساد پکې جهاد دی





## غزل

په کتو يې چې له هر سړي ايمان ځي
په سفر رانه نن بيا داسې جانان ځي

پوه د اوښکو په باران شي چې غېږ راکړي
بوی له زمکې مې "حسنه" د ګرېوان ځي

ډېرې پانګې هم ترې شاته پاتې کېږي
چې په لار د پرمختګ وړاندې انسان ځي

په نوبت مې د زړه تل کاندي ساتنه
چې اشنا شي رانږدې رانه ارمان ځي

که هر څومره ورته لاره کړې هواره
ځينې خلک په ټوپو لکه اوښان ځي

بې ژړا د غم د تبې درمل نشته
د ګرمۍ شدت په څاڅکو د باران ځي

دا منم چې ډېر قیمت لري "حسنه"
زړه د مینې په بازار کې په تاوان ځي

✸

رهبران مو نابغه او اتلان وي
دا وطن نو بیا د چا له لاسه خوار شو

مونږ به هم د ژوند په لارو پسې ووځو
چې له جنګ نه په قبرونو راوزګار شو

✸

درد خو لري خو دومره سخته نه ده
چې مې اوس زړه باور په یار نه لري

سخته خو دا ده چې مې زړه "حسنه"
اوس په حواسو اعتبار نه لري





## مور

جار قربان پکې د مور نه پیدا کېږي
لټ په لټ که د دنیا کړې خزانې

څوشبېې یې پخلاینې ته په کار وي
په خپګان د چا چې لګي زمانې

✸

د تهذیب لباس زاړه وحشت اغوستی
د ځواکمن ده لا خبره زوروره

د حېوان غونډې به پروت درکې زنځیر وي
چې په نوم د انسان ګرځې بې هنره

## غزل

تلم راپرېوتم ازغو په غېږ کې يووړم
خدابزده چېرته وسوسو په غېږ کې يووړم

د حواسو په لمسون مې خفه نه شې
لېونۍ غوندې جذبو په غېږ کې يووړم

له موسکا دې تر ساحل د بدن راغلم
له څپو نه دې څپو په غېږ کې يووړم

درته راغلم په سلګو سلګو جانانه
درنه بيا خپلو سلګو په غېږ کې يووړم

ما و سر د تنهايي په تيږه ايښی
تا تر څڼو د بڼو په غېږ کې يووړم

ماشومتوب و، مور به سترګې کړې راتورې
زه به پټ ترې جينکو په غېږ کې يووړم





رانه هېر دې کړو ظالمې سلامونه
په راتلو دې د لېمو په غېږ کې يووړم

هسې سترګې مې درنې شوې ويده نه يم
د چا غم د انديښنو په غېږ کې يووړم

که مې سپک نه و "حسنه" په پښو کې
هر منزل ته تلوسو په غېږ کې يووړم

✸

مرور يم له خوبونو نه جانانه
له دې ويرې نه چې تا به پکې هېر کړم

رانه خلک د سرو سترګو سبب پوښتي
ګرد غبار پکې بانه کړمه ځان تېر کړم

## غزل

لاس په خوله كرار اشنا ته ونيسم
غوږ يې چې د زړه درزا ته ونيسم

سر په زنگانه چې اسويلي راشي
لوند گرېوان مې دې هوا ته ونيسم

هر څوک كړي دعا د هدايت بل ته
گوته به د چا خطا ته ونيسم

پوه شم چې كيسه چېرته روانه ده
مخامخ چې سترگې تاته ونيسم

دوی لمنې ډكې دي له كانو نه
زه چې څم گلونه شاته ونيسم

نوم دې چاته نه اخلم شرمېږم لا
گوتې د بڼو دې خوا ته ونيسم





كړم چې ورسره د ښه او بد حساب
سترې شم لمن دنيا ته ونيسم

څوک مې هم "حسنه" زړه ته نه گوري
دا ماته هېنداره چاته ونيسم

✸

خېژي مې له خولې نه چې ساړه ساړه
زه په اسويلو وايه ښه څه وكړم؟

څوک خو دې هوا ته ډېوې نه نيسي
سترگې دې چې رڼې پرې زه څه وكړم؟

## غزل

ستا په لتون ځو ،زړونه تاته پرېږدو
شوخ ماشومان دي دا دې خوا ته پرېږدو

د زړه درزا ده درته څه ووایم
ځینې خبرې به سبا ته پرېږدو

سوړ اسویلي ته رانږدې شه اشنا
لنډې لمنې چې هوا ته پرېږدو

د محبت په لاره پلونه اخلو
لکه غبار رقیبان شاته پرېږدو

په لمس به ولولو یو بل په شپه کې
د نظر پاڼې به رڼا ته پرېږدو

زړګیه زه او ته به ووځو ترینه
پرېکړه به نوره خپل اشنا ته پرېږدو





"حسنه" سترګې چې تېتېږي پکې
هغه خبرې به بېګا ته پرېږدو

✸

قانون خو نه شو سم حمام ترې جوړ شو
چې هر خیرن ترې نه صفا راوځي

هغه جرګه کې به وکیل څه وایي
چې ترې له ویرې نه په شا راوځي

✸

خپل راکې واچوي زنځیر د قاتل
وژلی نه یمه تدبیر د قاتل

اوس هم چې کېنم چې پرهر وګنډم
دی راته ونیسي تصویر د قاتل

✸

په زړه وم شين بهار د وصل کې هم
زېړ دې خزان اوس د بېلون کړم اشنا
شوم لکه پاڼه بدلوم رنګونه
داسې دې روږدی په بدلون کړم اشنا

✸

لکه درد چې سرچپه کړې بيا هم درد وي
هم دې هجر، هم وصال له غمه ډک دی
دا چې زړونه مو لا بېل نه دي جانانه
ستا له ظلمه او زما له زغمه ډک دی

✸

خدای لپاره شين خالي پنجاب ته مه ځه
تور کارغان به دې د زنې دانې وخوري
د موسکا لمر دې له وريځو راجوت کړه
په ګل مخ دې چې اوښکنې دانې وخوري





## غزل

دا په سر يې له سپوږمۍ نه معلومېږي
دا يې کور دی له بلۍ نه معلومېږي

نوم د چا وربانديې ليک دی جنګ د چا دی؟
زمونږ په لاس کې له ګولۍ نه معلومېږي

شي ترمنځ به مو د شرم پولې ورانې
زما له ضد ستا له ځوانۍ نه معلومېږي

ښکاري دلته به دا ځينې ډېر شتمن وي
ددې قام له غريبۍ نه معلومېږي

لکه ځمکه مې ستا عشق ځان ته راکاږي
زما له ډېرې سنګينۍ نه معلومېږي

د دښمن له زوره نه چې جنګ به بايلو
زما او ستا له بې حسۍ نه معلومېږي

یو توپان د شور ویرېږم راروان دی
ددې قام له خاموشۍ نه معلومېږي

پسرلی د محبت په غوړېدو شو
ستا د شونډو له غوټۍ نه معلومېږي

یا به هسک وړې سر "حسنه" یا به یې وخورې
ستا له ډېرې بې باکۍ نه معلومېږي

✸

چې له هر طرفه نوې ورته راشي
زړې کډې ترېنه وکړي روانېږي

نیم سرونه زمونږ ډک دي له غروره
چې خبرې پکې ټولې نه ځایېږي





## غزل

ګام په ګام مې په جذبو خوره وره وې
لکه ګرد مې په بڼو خوره وره وې

تش د شپې په خوب لیدل دې نه و ګرانې
ټوله ورځ مې په لېمو خوره وره وې

په ژړا به مې څوک نه پوهېدل ځکه
لکه آه مې په سلګو خوره وره وې

په تا خپلې په دلې دلۍ پرتې وې
ته زما په اندېښنو خوره وره وې

لکه اوښکه رڼه راغلې رڼه لاړې
که هر څو مې په ککو خوره وره وې

هسې ګل غوندې "حسن" راټولولې
ته په ژوند لکه خوشبو خوره وره وې

✸

ته شاعر يې، زه ليکواله
ته يادونه کړې لفظونه
غم د هجر غزليز کړې
زه هم نه يمه وزګاره
د ژړا قلم راواخلم
د خوږو څړيکو کيسه يې
په ماښام کې مې د سترګو
د شفق په کرښو ليکم.

✸

زمونږ د مينې همدا منزل و
چې زمونږ د غرنيو زړونو
د هرې ډبرې له منځ نه يې
د مينې د اوښکو بهانده چينې راوخوټولې
په کومو کې چې هره شېبه
د يو چا جل وهلې پېغلې هيلې
بربنډې لامبي.





## غزل

راشه خور چې کړم درباندې د نازبينې خولګۍسيوری
نه به تل ستا دا ګرمي وي نه زما د ځوانۍ سيوری

په باده د عشق مې ډوب کړه د دنيا د غم له باده
ته رښا په دې سرور شه، زه به شم د مستۍ سيوری

په دې څه يم ملامته چې فطرت دې کړمه برخه
محبت خو وي جانانه د ښکلا د سپرغۍ سيوری

د نظر لمر يې شو مړاوی په خُمار خُمار لېمو کې
چې په زنه يې راخور شو بيا د خولې د غوټۍسيوری

قافلې چې ترېنه لاندې تيرېدې په بدرګو کې
خداېزده څه شو په دې لارو د پښتون د پګړۍ سيوری

څنګه سوځي به له چانه، زما سترګې چې درځمه
په بڼو کې مې چې زانګي، ستا د کور د بلۍسيوری

لکه رنګ د حنا خور شه په اختر هم په تڼاکو
په ښادۍ دې چې نظر وي، کړه د غم په سلګۍ سیوری

ددې ژوند په جل وهلي بیابان کې مو نور څه دي
بس راپاتې دی "حسنه" د امید د کېږدۍ سیوری

✸

د نالوستو ماشومانو
مونږ لوټ کړي قسمتونه

چې کتاب چېرته پیدا کړي
تش یې ګوري تصویرونه





## غزل

چیغې خو مې نه وې چې تا سترګې راایستلي دي
خولې نه انګازې مې د درزا د زړه وتلي دي

ته خو به یې اوښکې توري ټول په ژړا ومینځې
مونږ خو په داغونو حادثې په زړه لیکلي دي

لا مو د انصاف جګړه په څه توده ساتلې ده
اوس خو مو ټوټې د وطن خپل منځ کې وېشلي دي

هک حېران سړی شي چې په کومه خوا تر تا درشي
دومره اشارې دې د نظر لار کې شیندلي دي

بیا چې په خندا شمېري په لاس کې د تسپو دانې
شمېر کړي زمونږ د وینو چې یې څومره څڅولي دي

چېرته یې راځه د تورو سترګو ماښامونو ته
اوښکې لکه ستوري مې پکې درته ټومبلي دي

نه پېژنو يو بل اوس "حسنه" په سنگر کې مونږ
دوړې په هېندارو مو د زړونو پرېوتلي دي

*

لاس او پښو کې مې زنځير د بې وسۍ دی
تلوسې پکې ساتم زړه راکې پرېږده

بس دی دومره مې ځپې ولې ژوندونه!
لږ د مرگ لپاره هم څه راکې پرېږده

*

چې په غم واوښتې ځان سم ورته ټينگ کړه
تسلي د خلکو هسې تشريفات وي

ډېر کم خلک د غم بار له سړي اخلي
ډېر "حسنه" د کيسو او ملاقات وي





## غزل

ستا خندا ستا له خبرو سره خوند کړي
دا خو ساز دی له سندرو سره خوند کړي

په مغرور نظر دې څوک نه خفه کېږي
ستا له سترگو بڼورو سره خوند کړي

په ښکاره د سترگو جنگ ته سترگې راوړه
پټ گوزار له ترهگرو سره خوند کړي

تا عبث ټيټې نيولي وي په لاره
داسې سترگې له کوډگرو سره خوند کړي

له کمزوري زړه مې څه غواړې جانانه
زور زياتی له زورورو سره خوند کړي

زمونږ د زړونو په ډبرو دې زخمې کړې
نرمې پښې خو له مرمرو سره خوند کړي

غربت تریخ دی په یوازې نه تیرېږي
ستا د شونډو له شکرو سره خوند کړي

خداېزده ولې خدای درکړی دی "حسنه"
داسې زړه له جوارگرو سره خوند کړي

✸

نن مې بیا په سترگو اوښکې زیاتې شوي
په وړه وړه خبره باندې څاڅي

د یار زړه کله ویلېږي لېونی دي
هسې خوشې په ډبره باندې څاڅي

✸

ترهګر ته وا د ږیرې سپین ویښتان دي
چې له بېخه یو وباسې، لس راووځي

که دریاب مو د ولس په څپو راغی
بیا به ژر ترېنه دا یو یو خس راووځي





## غزل

خوله ده وچه خو پر مخ مې د خولو د باران نم دی
د وصال موسم دې جوړ بیا خوندور غوندې ستم دی

ورته خانده ته ګلابه د لاله زړه داغ مې هېر کړه
زمونږ لپاره ختم شوی د بهار په زړه کې زغم دی

هر یو پل د ژوند مو وړی شي د تقدیر د ژرندې پله ته
بیا هم تنګ د زړه له چاکه هر سړی لکه غنم دی

بوړبوکی د اسویلو دي پکې تندر د درزا دی
د حیا پردې یې یووړې توپاني غوندې موسم دی

ځي راځي مرغکۍ ساه مې وران ټټر ته چې په منډه
په دې ځاله کې نور څه دي ستا د غم ورسره غم دی

د تدبیر قلم خو پرېږده څو شیبې زمونږ په لاس کې
د تقدیر د قلم څوکې که تقدیر زمونږ قلم دی

ملامت پرې خلک څه دي پکې اچوي چې پړي
دې سړي غاړه کې خپله لکه ستن ساتلی سپم دی

له زړه یو مې سي خبرې ورته شور د درزا راوړي
ملاقات یې هم "حسنه" سوداګر لکه صنم دی

✸

دلته قتل په تقدیر باندې تاوان دی
خلک ځکه د قاتل لا احترام کړي

لاندې ناستو ته هر څوک ورکوي لتې
په څوکۍ ناستو کسانو ته سلام کړي

✸

په خبرو یې غوږ کوڼ کړه کار یې ګوره
ببرسرې مې لیدلي رومنځې پلوري

هسې تا لپه کې خلکو ته نیولی
زړه دې څه کوي "حسنه" جیب ته ګوري





## غزل

نیسو تېز دښمن به نور د فکر په جالونو کې
نه ولي کبان څوک په ټوپک په دریابونو کې

ستاسې دا کوپړۍ او پکې فکر د وطن د وېش
څو پورې به اوسي دا هوا په حبابونو کې

څه به ستا د حُسن په محل کې درته ووایم
چا کړی ملا سره تکرار په جوماتونو کې

ځار شه له جهاد ه چې دنیا یې کړه جنت درته
خښې دې کوپړۍ کړې د محل په دېوالونو کې

یو یو شو ښکاره .د وخت بهیر چې ترېنه پورته کړل
څومره پټ ټګان وو د مذهب په حجابونو کې

بس کړه په ګرېوان کې به دې پاتې هم یو تار نه شي
مونږ ګوره دردونه لا ایسار دي په زخمونو کې

بس ده په نوکونو د تعصب يې پلټې ولې
ډوب به شي ظالمه د ولس په پرهرونو کې

مونږ خو به ټومبل پکې ګلونه د ګلشن وطن
ګرځوي بمونه اوس ځوانان په واسکټونو کې

يو يې لا ګنډلی نه وي بل پرهر يې وسپړي
نه پرېږدي ځوک مينه د "حسن" په غزلونو کې

✸

ځومره و هوښيار د کوږ پکول ځښتن
وايې خيست جګړې ته له جهاد نه کار

بيا يې چې نظر په ځوکۍ ولګېد
وايې خيست "حسنه" له نژاد نه کار





✸

شپه ده، وربځې دي د اوښکو
نه سپوږمۍ شته، نه کوم ستوری
بيابان د تنهايي دی
رانه ورک مې شو هم سيوری

✸

د يو څو شېبو په شور مې خپه نه شې
لکه پاڼه د خزان کډه مې بار ده
ته به وايې چې مې هېڅ نه ده ليدلې
ته به وايې زندګي لا انتظار ده

✸

لکه چې رام شوې چې خبره اشنا!
له تغافل نه دې ګيلې ته راغله
يوه خبره وه خپه ولې شوې؟
د تا وه زړه کې، زما خولې ته راغله

## غزل

گورم د لېمو غاړې چې مړې زړه مې چېرته دی
خداېزده سيند د اوښکو رانه وړی زړه مې چېرته دی

شل شوم درنه تلی نشم د چا په اراده لاړ شم
وايه! شو ناوخته چې درکړی زړه مې چېرته دی

ستا د ناز مارغه وخوړ که پوخ نه و چې شين نه شو
وگوره سينه دې هغه زړی زړه مې چېرته دی

پاڅه شپه تياره ده د مړو سترگو ډيوې بَلې کړه
ورک دی ته يې گوره چې زوی مړی زړه مې چېرته دی

سيوري کې د زلفو که به پروت په بيابان کې وي؟
هېڅ نه يم خبر چې هغه ستړی زړه مې چېرته دی

ور يې کړ "حسن" ته راز يې نه تړي سينه کې پرې
خلک چې خبر شول وې: چې پړی زړه مې چېرته دی





## غزل

تا وې: ډېره دې ده زړه وروړمه نه لاسونه
د بوډۍ ټال مې کړې راتاو دې کړل په غره لاسونه

په يوه مې هم نشته باور گوره رسوا به مو کړي
ته دې په خوله زه به دې کېږدمه په زړه لاسونه

تا د ملا غوندې کړو وروسته بيا اختر د وصال
ما په نکريزو سره کول که ټوله شپه لاسونه

داسې درپورته مې کړې سترگې په زنځير کې د عشق
لکه قيدي چې د بڼو کړي جگ سپېره لاسونه

خلکو ويل جوړې دی جنگ، پکې تاوېږي تورې
تا چې اتڼ کې غورځول کاږه واږه لاسونه

په پرهرونو د زامنو ترېنه څاڅي اوښکې
نور په دعا د مېندو ستړي شول لانده لاسونه

زمونږ خو تخنيږي د ظالم د گرېوانه لپاره
نورو نيولي که "حسنه" دي په خوله لاسونه

✸

په کفن کې يې د سپينې موسکا خښ کړه
موده وشوه ځوانيمرگ زما ارمان دی

کتابتون ته مې د مخ سر راښکاره کړه
پروت د گونځو په هر تاخ کې يې ديوان دی

✸

دومره سپېلني درته له کومه کړم
څومره درپسې چې اشنا سترگې دي

هېڅ مې سترگې نه اوړي د ځان په لور
تا چې اړولي له ما سترگې دي





## غزل

اوښکې دې ورکې شي چې تل د غم شپېې ته راځي
دا خلک کم دي چې مې دوی هم تماشې ته راځي

خوار به کړي ځان چې د ملت په ځای توکم پسې ځي
بخت چې دکب شي په درياب کې کم ويالې ته راځي

هرې سلگۍ کې اسويلي مې بې مانا مه گڼه
سوز د ځيگر مې وي په زير و بم نغمې ته راځي

د دنيا لمر وي ورپسې پکې د ورځې ورک وي
په خوی د ستورو شو ديدن ته صنم شپې ته راځي

سم مې له ساه سره جوړه ځي له مودو راهيسې
يو لا وتلی نه وي بل ماتم سينې ته راځي

ډېر دې عنوان د ځان د عشق کړو زمزمه په شعر کې
"حسنه" بس کړه چې دې نور قلم کيسې ته راځي

## غزل

پاچا به څنګه شي غمخور د خلکو
چې واک ته نه رسي په زور د خلکو

زړه کې احساس لکه اوبه لرمه
له خلکو تور نه شو په تور د خلکو

ترینه خپلواک فکرونه وڅڅېږي
چې هسک سرونه شي نسکور د خلکو

مړه په خطا شي د قاتل له قوله
نور د ژوند نشته دلته پور د خلکو

پاچا مو خوب ویني د ځان لپاره
چې راویښېږي نه په شور د خلکو

بادېږي هر لور زهرجن فکرونه
زخمونه څنګه شي ټکور د خلکو





د خپل ضمیر پریکړې ته غوږ ونیسه
"حسنه" مه اوره پېغور د خلکو

✸

له رنځو هېندارو لرې ګرځم
هسې نه چې شي په ګرد زما بدنامي

پاخه زړونه یې په قدر ښه پوهېږي
مونږه اخلو ځکه خولې له ښکلو خامې

✸

لکه دلته چې پیریانو اړولي
په هر ګوټ کې مقتول پروت دی قاتل نشته

ځار شم ستا له برکته انقلابه!
هر سړی دلته په حق دی، باطل نشته

## غزل

ولې چوپ ناست يې جانانه څه خو وايه راته وايه
زړه مې وځي له ګرېوانه څه خو وايه راته وايه

دا چې تا او دې هېندارې سترګې يو بل کې ټومبلي
دا يې ته که دا حېرانه، څه خو وايه راته وايه

زه چې تا نه روانېږم په سکروټو د سفر ځم
وي به څومره راته ګرانه، څه خو وايه راته وايه

قافله دې ځي د اوښکو د موسکا په بدرګه کې
شم قربان درنه قربانه څه خو وايه راته وايه

ما په چيغو استقبال کړه چې د دواړو زړونه سپک شي
ما کړې ډېره پرېشانه څه خو وايه راته وايه

د ښکلا له بغاوته که له مينې نه ډارېږې
ته په څه شوې پښېمانه څه خو وايه راته وايه





د ژوند پېټى دې "حسنه" ورځ په ورځ درته درنېږي
سپک لرې که يې ستومانه؟ څه خو وايه راته وايه

✸

تراوسه هسې راکې ساه چلېده
اوس به له تانه زندګي جوړوم

نور له خوښيو نه خندا زېږوي
زه له خندا نه خوشحالي جوړوم

✸

د مخ سترګو کې غرور يې مجبوري ده
د زړه سترګې يې په هر لوري تاوېږي

ما د ښکلو له خولې خپله اوريدلي
ښکلا بار دی په نظر باندې سپکېږي

✸

یوازې دا خبره گرانه، نه ده
چې بې له تا، راته سختېږي عمر

سخته خو دا ده مسافره یاره
وخت نه تیرېږي، خو تیرېږي عمر

✸

پوهېږم چې د وخت د بهیر سره
د ډېرو پوښتنو ځوابونه رنگ بدلوي
خو ډاډه یم
چې له مانه ددې سوال
چې زه له چا سره مینه لرم
ځواب به تل د ابدیت په شیشه کې
زما د زړه په میوزم کې
پخپل حال پاتې وي.





## غزل

که ته مې هم نه کړې جانان بیا مې جانان مه گڼه
لوگی لوگی مې شوه ځواني خو ما ناځوان مه گڼه

وه یې درزا هم اسویلي، پولې یې ټولې یووړې
تا ویل موسم مې د سینې یاره توپان مه گڼه

که مې شکي یې په جنون چاک مې د زړه وگوره
د لېونتوب نخښه یوازې چاک گرېوان مه گڼه

منم لرې د دروازې به یې کونجي د موسکا
خو کور د زړه کې اوسېدل دومره اسان مه گڼه

که هر څو لوړ وي هم زوال هم سرحدونه لري
لوړ دې له ځانه بل انسان گوره اسمان مه گڼه

زړه ورکول په یارانه کې خو اړتیا وي د زړه
زما ځارېدل تر تا اشنا په ځان احسان مه گڼه

که تــه مــې وبــایلې او ومــې ســاته سر وطنــه!
بیـا راتــه نــوی نــوم کــړه غــوره، مـا افغـان مــه ګڼــه

څه ورځه زړه دې رانه وړه لار کې یې نه لندوي
هسې اوبه پسې شیندم اوښکې باران مه ګڼه

تـا چې "حسنه" ورتـه وژړل خفه ولې شوې؟
ډېرین زړه یې د اوبو په څاڅکو وران مه ګڼه

✸

مونږ چې تمه ترې د سر د سړي وکړو
سر د بل په فکر خرڅ کړي سوداګر شي

اول ځان زمونږ په مال او وینو ټنډ کړي
بیا غلیم ته کړي سر ټیټ پر مونږ ببر شي





## غزل

اوښکو! په مخ مې چې نشان دی ګورئ وران یې نه کړئ
داغ د بوسې مې د جانان دی ګورئ وران یې نه کړئ

بادونو! الوځئ لږ پورته څه خبر یې راوړئ
پل د اشنا مې په ما ګران دی ګورئ وران یې نه کړئ

له موسکی شوندېو جوړوي د ګلابونو تصویر
اوښکو دا څه مو جوړ باران دی ګورئ وران یې نه کړئ

وړانګو! لږ تم کړئ مازدیګر دا که ګودر ته درومي
سیوری یې دې خوا راروان دی ګورئ وران یې نه کړئ

مرهم په پام مې د تسل ږدئ په زخمونو د زړه
پکې انځور د چا ارمان دی ګورئ وران یې نه کړئ

تاسو هم څنګه په اوبو د اوښکو ونړېږئ
بل هم له خاورو جوړ انسان دی ګورئ وران یې نه کړئ

دا په سينه کې يې چې پروت دی دربخښلی يې دی
زړه د "حسن" افغانستان دی ګورئ وران يې نه کړئ

٭

چې نه غوړونه او نه سترګې لري
ورته په پټه که په جار وژاړم

نوی مخلوق دی د انسان په بڼه
ورته کابل، که کندهار وژاړم

٭

په ولاړه مې کتل د ژوند اوبو ته
ښوربدی پکې مجبور غوندې انځور وو

په اميد د تسل ورغلم "حسنه"
په ايينه کې هم رنځور غوندې انځور وو





## غزل

زه لکه پرخه ومه ګل په غېږ کې واخيستمه
تا چې د خپل زخمي ګوګل په غېږ کې واخيستمه

څپو يې نور لکه خځلې په ساحل غورځول
سمندر زړه يې زه د تل په غېږ کې واخيستمه

ما مخامخ په تصور کې ستا تصوير ته کتل
تا له شا ټينګ کړم ما ويل بل په غېږ کې واخيستمه

توره تياره وه رانه ورک وو اخير ومې موندو
خوشبو د ساه يې د خپل پل په غېږ کې واخيستمه

ما لا قدم سم د منطق په ښار کې ايښی نه و
قسمت ته ګوره بيا ځنګل په غېږ کې واخيستمه

زه مې ستومانه اندېښنو چې خدابزده چېرته وړلم؟
ستا د خبرو شوخ غزل په غېږ کې واخيستمه

زه خو لوېدلی وم له پښو د ژوند په لويه لاره
تا يې له خاورو لکه شل په غېږ کې واخيستمه

څنګه چې ما د ګوړګوتيو څڼو شپه خوره کړه
جانان په منډه لکه غل په غېږ کې واخيستمه

شول رانه نور خلک "حسنه" ټول بېزاره غوندې
اخير هم خپل اشنا ازل په غېږ کې واخيستمه

✸

لويه خدايه پکې مينه ورکه نه کړې
په غزلو مو د جنګ لوګي خواره دي

هر سړي ته يې توپير کول مشکل دی
په څرمن کې د انسان سړي خواره دي





## غزل

لاس چې په مينه کړي راوړاندې پکې زړه ورکوو
له غمه ترېو ته د سرو اوښکو اوبه ورکوو

چې د غليم نيت د يرغل له زړه نه خولې ته راځي
مونږ تر دې وړاندې ورته دروند ګوزار په خوله ورکوو

چې د مېلمه په توګه راشي ورته زړه غوړه وو
خو واک د کور د دروازې بيا چاته نه ورکوو

څوک چې يوه څپېړه راکړي مونږه دوه ورکوو
څوک چې په لاس کړي ستړي مشي مونږ بانه ورکوو

يوازې مينه ده "حسنه" چې پرې اخلو زړونه
مونږه تش لاسي دې وګڼو ته نور څه ورکوو؟

✸

وخت خندنی شي چې له مخه یې یو
په اوښکو مینځي د لار گردونه
او بل یې ورو ورو کړي جارو په شونډو
په شونډو ناست د انتظار گردونه

✸

د هر چا د تېروتنې به ملاتړ کړې
دلته څوک په سمونه پسې گرځي؟
حقیقت ورباندې پېټی شي "حسنه"
چې د ځان په غولونه پسې گرځي

✸

ما پرې غر کړ چې دا څنگه درته گران شوم؟
دا موسکی په ټیټو سترگو خوا ته راغله
وې: زما د غرني زړه مینه څه ده؟
انگازه دتا د غر ده، تاته راغله





## غزل

چې هېره ترېنه "نه" کړم دتا خوښه ده که نه
راځه چې ښکل دې خوله کړم دتا خوښه ده که نه

بهېږي په کتاب مې د گرېوان سیاهي د اوښکو
پرې لیک به ستا نامه کړم دتا خوښه ده که نه

یوازې یم نن ډېر ستا تصور ته مې زړه کېږي
مېلمه که یې د زړه کړم دتا خوښه ده که نه

دا بیا دې په لیدو زما جانانه خوله شوه وچه
په لمس به یې اوبه کړم دتا خوښه ده که نه

وې: نن به کړو انداز د گفتگو بدل "حسنه"
ته "نه" کړه زه به "ښه" کړم دتا خوښه ده که نه

## غزل

نورو په پښو د هر بادار کې غوړول سرونه
مونږ د مېړانې نوم ګاټه که مو بایلل سرونه

شل د پردیو په فکرونو کړي ملي فکرونه
کنه لرو په هر دوران کې د سر شل سرونه

اوس تلل کېږي په سرونو کې پراته فکرونه
لاړ هغه وخت چې د لښکر به یې شمېرل سرونه

نن رانه هم د بابا توره زنګ وهلې نه ده
که د اغیارو مو پرون پکې پرېیل سرونه

پاتې شول هسک شکر د هسک له سیالۍ ونه لوېدل
وړل په اوږو مو که په دار کې مو ټومبل سرونه

وګورئ نور څومره هسکین دي ټوکېدلي راکې
تاسو خو ویل چې مو له بېخه ورېبل سرونه





راځئ په خپلو کې نور وخوځوو نرمې ژبې
هېر کړو هغه چې مو د یو بل ماتول سرونه

هغه وطن هغه یې توره ده اوس هم "حسنه"
په غلیمانو به چې چیرته ګرځېدل سرونه

✸

د اوښکو پرخې ته ژړلی نه شي
ګل دی، خندا خو پټولی نه شي

د اوښکو لوست یې لا زده کړی نه دی
د درد کیسه مې یار لوستلی نه شي

✸

نصیب ته ګوره درد کړي لاره خطا
پرهر په بل جوړ شي دی ماته راشي

"حسنه" څوک دي په دې چم کې وزګار
ماته که رانشي نو چاته راشي؟

## غزل

پښتون وطن و شرمېدلې اوښکې
نه راوتې نه صبرېدلې اوښکې

تا لکه گل پرانيسته غېږه راته
ما لکه پرخه څڅولې اوښکې

ستا به له ډېرې خندا اوښکې راغلې
ما په خندا چې غولولې اوښکې

غم دې پرې شپه ما ورته ستوري راوړل
چې په ټټر کې مې ټومبلې اوښکې

پرېړده چې وڅاڅي په لپو لپو
ما وې دې ورځې ته ساتلې اوښکې

وې لېونۍ چې ستا د وصل د خيال
په هر زيارت مې گرځولې اوښکې





هسې نه داغ يې پر لمن پاتې شي
"حسن" په گوتو وچولې اوښکې

✸

ډېوې خو هم شته وه کم عقله ياره
ته د رڼا آ لپاره اور بلوې

څوک له لرگيو دېوال نه جوړوي
ته خو په خپله اور په کور بلوې

✸

خدايه غم رانه لوټلې خوشحالي ده
له هر زړه نه يې اخيستې تالاشي ده

شور د زړونو غمکدې ته کډه کړې
په دې کلي کې چې دومره خاموشي ده

## غزل

څراغونه پر محل ځنې کتار کړي
څوک ماښام کې شمعې بَلې په مزار کړي

هم پرده هم يې سبب د خوشحالۍ دی
جاهلان په جهالت ځکه ټينګار کړی

په ايينه کې په تصوير زړه سپکومه
چې بېلتون دې تنهايي ورباندې بار کړي

ګام په ګام ورسره ټول عمر سياست کړي
چې پښتون ته يې شي مخ په سر دستار کړي

ماسکه ويل زما د غم داستان ته غوږ دی
وروسته پوه شوم چې خپل وار ته انتظار کړي

په څپو د هوا اور لا تازه کېږي
اسويلي به مې غمونه څه کرار کړي





پکې پروت د مستې شپې تصوير ځلېږي
چې ښکاره د مخ د لمر ايينه سهار کړي

په نشه د شنو انګورو سحر پوه شي
چې د شپې "حسن" په شنو سترګو خمار کړي

✸

د چا اوښکې د اشنا له لاسه درومي
خود چا د تللي يار په هر پل څاڅي

ژوند د اوښکو مو له مونږ نه ډېر مصروف دی
له يو غم نه خلاصی نه وي په بل څاڅي

✸

زمونږ د قسمت محل ته لاره نشته
خپلې جونګړې ته لرګي ټولوو

سهار په خان باندې ګلونه پلورو
ماښآم چې کور ته ځو ازغي ټولوو

## غزل

چې دې خولې يې نن په خوله خبره ژاړم
له خوښۍ نه په خوږه خبره ژاړم

تا خو لنډه په کټ کټ خندا کړه ياره
زه د مينې دا اوږده خبره ژاړم

نورې نوې راته مه کړه صبر وکړه
لا دې ياره په زړه خبره ژاړم

په مېوه خو مرچ مزه کړي زه ساده يم
چې پر خوله يې په ترخه خبره ژاړم

د وطن د مور له غېږې لرې پروت يم
د يتيم غونډې په نه خبره ژاړم

لکه اوري چې باران په لمر او وربخ کې
هم په بده هم په ښه خبره ژاړم





هسې نه چې پرې دې شونډې وسوځېږي
په دې خامه خوله پخه خبره ژاړم

په جفا يې راته زړه اوبه اوبه کړ
لا تپوس کړي چې په څه خبره ژاړم؟

پخواني "حسن" خو نه يم لکه کاڼی
مسافر يم په وړه خبره ژاړم

✸

له شنو سترگو نه په څنگ څنگ کې تيرېږم
ما مستي د شنو انگورو ده ليدلې

په گل لاس "حسنه" مه وهه شړېږي
ما نرمي د سرو غومبورو ده ليدلې

✸

شاعري مې هم حصه د طبابت شوه
لکه درد شومه رېبار د پرهرونو
تل مې گل او بلبل نه وي په غزل کې
پکې ژبارم هم چغار د پرهرونو

✸

هدیرو کې هم ددې مالت وگړي
د ښارونو له قانون سره وفا کړي
له خاورینو ځلیو وړاندې ځي تیرېږي
د مرمرو مزارونو ته دعا کړي

✸

انتظار مې ټوله شپه درته لېمې کړي
درته لار کې د نظر گلونه کېږدي
غریو نیولې شي چې رانشې جانانه
پر مخونو د بڼو لاسونه کېږدي





## غزل

ستا نظر دی دا تصویر په ایینه کې
چې یې نه وینې تغیر په ایینه کې

هرکلی دې د خندا کړم تل جانانه
پړکوم یې د خپل ویر په ایینه کې

د خپل اصل په نظر که ورته ځیر شې
درښکاره به شي فقیر په ایینه کې

ور د شا مې د زړه ستا پر مخ رابند دی
شوې تصویر غوندې اسیر په ایینه کې

سرچپه د هر قانون که ایینه کړې
ورک به نه شي د ضمیر په ایینه کې

ژوندون خوب دی له هر چا نه تش یوازې
نوم شي پاتې د تعبیر په ایینه کې

ستا د خپل فکر رنګونه دي "حسنه"
څه چې وینې د تقدیر په ایینه کې

✸

څوک چې کاږي د اوبو منځ ته ګوزار کړي
لور په لور ترینه څپې خورې ورې شي

هسې ستا په یوه بڅري د نظر مې
د زړه رګ رګ کې جذبې خورې ورې شي

✸

ته په شونډو راوله ترخې خبرې
زه د میو له تریخ خوند سره بلد یم

ستا د سرو سترګو کتاب مې دی لوستلی
اوس د ژوند له هر چلند سره بلد یم





## غزل

خوره کړې هر پلو د بخت شمال ده
زندګي مې ستا د څڼو په مثال ده

چا وې: سیوری په ګلبڼ د مازدیګر شو
چا وې: ستا په اننګو سایه د شال ده

هره سترګه یې جمله ده ځان ته بېله
ځکه ایښې یې نقطه پکې د خال ده

زېری وشو چې به راشي ځکه نن مې
برابره ورځ له شپې سره د کال ده

زندګي مې رانه وړي د زړه قفس کې
رانیولې یې د سرو څڼو په جال ده

دا زما تېري نظر مغروره کړې
که خبره په عروج د خپل جمال ده؟

هــر نظــر یـــې چـــې دیـــوان د محبــت دی
مــا مونــدلې د "حســـن" د شــعر پــه پــال ده

✸

زړه مـــــــې ورانــــــه ویرانــــــه وي
دتـــــا غـــــم پکـــــې ابـــــاد شي

ســـــتا د خـــــامې خـــــولې یادونـــــه
پـــه پخـــه شـــپه کـــې رایـــاد شي

✸

د ګلونـــو تـــازګي وي لـــه شـــنو پـــاڼو
زړه زمــا شــو پســې شــین ګلمخــی خانــدي

مــا پــه پــاڼو کــې د ســترګو رڼــا ورکــړه
اوس پــه مــا بانــدې "حســنه" کــانې کانــدي





## غزل

نــیم رقیــب وخــوړ نــیم ښــکلو تــه زکــات شــو
د مئینـــو ژونـــدون لاړو خرابـــات شـــو

شیشه نـه وه چـې پـه کړنګ یـې څـوک خبر وای
لـه ښـوی لاس نـه د یـار ولوېـد زړه مـې مـات شـو

کـه هـر څـو یـې لـه هـر غـم زېـږې غمونـه
ژونـد چـې څـومره کمېـدو، هـوس یـې زیـات شـو

د ګیـــدۍ څڼـــو لـــه ســـیوري سره راغلـــه
د رقیــب پــه څنــګ کــې بیــا مــو ملاقــات شــو

چـــې مېـــوه د پېغلتـــوب وربانـــدې بـــار شـــوه
هـــر یـــو ښـــاخ یـــې د مغـــرور نظـــر راتـــات شـــو

د الفـــت مچـــی دې چـــک پـــرې لګـــولی
ګـــل د شـــونډو یـــې "حســـنه" درتـــه شـــات شـــو

## غزل

هسې دې ډار کړو خپلولی مې شوې
زړه مې و خور راټولولی مې شوې

عشق دې کوچنی کړو کنه لوی و مخکې
کاش چې په ژوند کې ځاېولی مې شوې

رابانـدې بار بار مينه څله سپارې
زړه مې که خپل وای هېرولی مې شوې

په سوال مې تاته د تا وزن درښود
ځان ته په سترگو کې تللی مې شوې

کاشکې چې ډکې له سرو اوښکو نه وای
چې په لېمو کې گرځولی مې شوې

ما وې: په لاس کې به شې پاڼې پاڼې
ستوری خو نه وې رانيولی مې شوې





سترگو ته نه راتلې مغروره اوښکې
کنه اشنا خوشحالولی مې شوې

زما په سترگو کې نظر شوې اشنا!
کاش چې وای اوښکه چې څنډلی مې شوې

وې: ملا بانگ دې شو رقيب "حسنه"
کنه تر ډېرو زنگولی مې شوې

✸

په قيمت يې د ضمير گټلی زر دی
خبر نه دی چې بايللی يې گوهر دی

د ثروت بادې يې سر له باده ډک دی
نه دی پوه چې ژوند د ژمي مازديگر دی

✸

د خوښۍ اوښکې کې راغلې ډېر مې مه ګوره لېمو ته
پام کړه پام کړه دا جامونه رانه ډک نه شي جانانه
په اینو کې دې دسترګو د خالونو ستوري ګورم
په اسمان ستا د مستۍ کې رانه ورک نه شي جانانه

✸

راوړه ترې يو نوی شرابي غزل
مست مې تخیل ستا په خبرو دی
ډوب دې کړه لاسونه د نظر پکې
ډک مې دا دریاب لا له ګوهرو دی

✸

په يو حال کې يې هم خير نه وي ياره!
وي بستر مې په هر حال کې ګونځې ګونځې
بدلوم پکې اړخونه ته چې نه يې
په مستۍ شي په وصال کې ګونځې ګونځې





## غزل

په پور مچکې دې دربانـدې به شي
شونډې مې پرېږده لالهاندې به شي

د لېچو تورې دې په پام ښوروه
توره تیاره ده راتر لاندې به شي

د عشق څپو يمه په سر اخیستی
اسویلي مه باسه څپاندې به شي

نظر مې پرېږده په ګل پاڼو شونډو
سیوري پرې څله کړې مړژواندې به شي

زما شعرونه سندريز غوندې وي
اوښکې دې مه څخوه ساندې به شي

وې: نور "حسنه" لړزېدلې شولې
شونډې دې لرې کړه راوړاندې به شي

## غزل

زړګیـه! دومـره سـتا درزا څـه ضروري خـو نـه ده
د یـار محفـل دی واویـلا څـه ضروري خـو نـه ده

لکــه اوبــه راویښــوي مــې خوبــولی احســاس
چـې د هــر درد وکـړم دوا څـه ضروري خـو نـه ده

ولې مې لاس پـه سینه کېښـود ګېڼـې واخیسـتم
رابانـدې څـه وایـې اشـنا څـه ضروري خـو نـه ده

د ژوند په لار ځو په رڼا یې، ستا خندا خو شته دی
پـر شـونډو نشـته کـه زمـا څـه ضروري خـو نـه ده

راځنـې ورک کـړي د خبرې سر حېران پـاتې شـم
جانانه هر وخت ستا موسکا څـه ضروري خو نه ده

پرېږده چې هرڅه هرڅه وايي زمونږ پرې څـه جانانـه
چې چوپه خوله کېني دنیـا څـه ضروري خـو نـه ده





چـې انګـازه دې کـړي فریـاد د لوړقـامتو غونـدې
لـه ټیټـو هـم دا تمنـا څـۀ ضروري خـو نـه ده

کلـه ناکلـه یـې څـو چنـده شي بیـا بیـه وروسـته
چې هر خیرات دې وي وړیا څه ضروري خو نه ده

لــه زمــانې سره "حســنه" ســتا د مــخ اړول
هـره شـېبه لکـه هـوا څـه ضروري خـو نـه ده

✸

مــرور نــه وم اشــنا دا مــې مطلــب و
چې وسعت مې د خلا زړه کې احساس کړې

شــوخ یادونــه د "حســن" بــه دمــه نشــي
کـه هــر داغ د مئـین زړه ورتــه ګـیلاس کـړې

## غزل

عشق که نه وای پرې زخمونه به کرل چا؟
د زړه ورانه ويرانه کې به خندل چا؟

شکر شمعې د زخمو لرم په زړه کې
په زيارت د پتنگانو به ژړل چا؟

که غيرت راته شملې نه وای ترلې
لر او بر به په دې تار سره گنډل چا؟

ما يې واورېده درزا، نو ته که نه وې
بيا دا ورونه مې د زړه راټکول چا؟

ترې اورې به دې اوس ماتې وای زړگيه!
شکر شکر ارمانونه دې لوټل چا؟

تا خو وې: چې به دې پرېږدم نن شپه خوب ته
په بڼو مې رخسارونه تخنول چا؟





د "حسن" د اسويلو وږمې که نه وای
ستا د شونډو به گلونه غوړول چا؟

✸

ساه يې په ژوند له هر يو تن ووېسته
سوله يې بيا له وران وطن ووېسته

رانه خرمن د قربانۍ هم غواړي
چا چې له هر پښتون خرمن ووېسته

✸

زندگي خو په يارانو زندگي وي
کنه هسې د نفس ازارول دي

هره سا د ژوند "حسنه" بل څه نه ده
يو قدم تر لحد لاره لنډول دي

## غزل

دا به نه پوښتې چې روغ او خراب څوک دی
په الفت کې بند او خلاص په حساب څوک دی

راشه جوړ پرې د نظر پُل کړو جانانه
دا ترمنځ مو غځېدلی درياب څوک دی

سوداګر خو د جنت ډېر دي حېران يم
چې طبيب مو د دنيا د عذاب څوک دی

راشه ولوله لفظونه مې د اوښکو
چې ليکوال مې د لېمو د کتاب څوک دی

چې نقاب د ږيرې ځوړند پر هر مخ وي
څه به پوه شې چې راستګو او کذاب څوک دی

چې دې څڼې د خيال بيا خورې ورې دي
دا پکې دې بيا ټومبلی ګلاب څوک دی





چې د څڼو په نغمو يې ستړيا مينځې
دا په غېږ کې دې "حسنه" رباب څوک دی

✸

ناسته مخامخ وه وې: دا تريخ چای دې
څنګه په دې ستوني کې بندېږي نه

لاس مې دې ته ونيو ترې مې وپوښتل
ولې درته دا ګوړه ښکارېږي نه

✸

چې شروع شي د دردونو وېش "حسنه"
د مودو زمونږ ويده قسمت راويښ شي

د شعر کړيکو کې دې څړيکې زمزمه کړه
چې په سوز يې دا ويده ملت راويښ شي

✸

پـــــه بــــــدن بانــــــدې مـــــې درونـــــــد وو
زړه مـــې ســـپک شـــو چــې تـــه راغلـــې
پـــــه ځـــــان ســــــترې وم جانانــــــــه
ښــــه ده ورک شــــو چـــې تــــه راغلـــې

✸

پـه يــو بـل کـې چې ټـومبلې مـو وي سـترګې
نـــوې مينـــه ده، فضـــا يـــې مســـتانه ده
خـدای خـبر دی چـې ترڅـو بـه وي "حسـنه"
دا د کــــانې او هېنــــدارې يارانــــــه ده

✸

انقـــلاب يـــې وه نامـــه ټـــول پـــرې روان وو
مــــونږ ددې او دا زمــــونږ لپــــاره نـــه وه
پښـــې د هـــر انقـــلابي شـــوې پکــې ډوبـــې
پـــه دريـــاب نـــازک کنګـــل و، لاره نـــه وه





## غزل

د احســاس اوښــکې يــې رغــړي پــه بڼــو ځــي
لــه ګــلاب نــه پرخــه څــاڅي پــه ازغــو ځــي

پــه نرمــی د محبــت يـــې نفـــرت مينځـــه
د خـــيرن لبـــاس نـــه خـــيري پـــه اوبـــو ځـــي

د دريـــاب د تـــل پـــه څپـــر مـــې زړه ارام وي
کـه مـې فکـر مـخ پـر وړانـدې پـه څپـو ځـي

څـه خـماره خـاموشي ده خـو پېغـام مـو
يـو او بـل تـه د سـاګانو پـه خوشـبو ځـي

وې: چې بس يې کړه په عشق به مې اخته کړې
لـه رنځـور نـه بـل تـه رنـځ پـه اسـويلو ځـي

هـره خـوا لکـه خوشـبو د زړه لـه بـڼ نـه
تـل مـې فکـر د شـعرونو پـه وږمـو ځـي

شل په ذهن په ښو ورځې "حسنه"
چې عاقل چرته د فکر په اوږو ځي

✸

هسې یې سترګې سودایي غوندې شوې
چې یې راوکتل زما په زړه کې

خو چې یې کړه د زړه سودا راسره
ورسره هیڅ نه وه سودا په زړه کې

✸

وریځو ځاځکي څڅول چې ترینه تلمه
دې وې: مه ځه د فضا هم خوښه نه ده

په تنۍ کې یې رابندې شولې څنې
وې: چې ګوره د هېچا هم خوښه نه ده





## غزل

وامې خله په شونډو کې ټپه مې کړه
غېږ دې کړه خوره پکې خوره مې کړه

تور څادر مې پرېبرده چې په ملا زانګې
مخه مې درلوڅه کړه ایینه مې کړه

ځان مې امانت درته ساتلی دی
شونډې رانږدې کړه اندازه مې کړه

ځای مې کړه د زړه تیاره جونګړه کې
اور د عشق راپورې کړه ډیوه مې کړه

زه منځ کې لانجه د زړه او ذهن یم
ته راته موسکی شه فیصله مې کړه

سپین تورو ته هم ګوره محتاجه وي
پورته مې کړه سترګو ته رانجه مې کړه

شنه مې له خندا کړه راته وخانده
غوره کې د غمونو انګازه مې کړه

خونه د "حسن" د زړه چې ورانه شوه
وایي ورته اوس چې مېلمنه مې کړه

✸

پیاله لرې کړه له لاسه مخ راتېټ کړه
چې په څښلو لا ډکېږي داسې جام را

په خرپا به یې بېلتون ځپلي وینې شي
له پستو مچکو ډک ساغر په پام را





## غزل

د رڼو اوښکو د ستورو په ما پام وي
سینګار کړی یې د غم راته ماښام وي

زندګي د بې خودۍ غېبر کې دمه شي
له موسکا نه یې چې ډک د شونډو جام وي

پټه خوله په شور ځپلی ورته ناست یم
خاموشي د زورورو انتقام وي

هسې تشې تجربې دي پرې غلط شو
په هنر یې چې پوهېږي ژوند تمام وي

د عاقل د ارام برخه عقل لوټ کړي
ګرېوان چاک له پختګي لکه بادام وي

مېوه هله شي اوبلنه چې پخه شي
څه به وژاړي چې باغ د زړه یې خام وي

وايي څه غواړې له شعر نه ما خو وينې
نه پوهېږي چې همدا د شعر الهام وي

په يوه کونج کې يې کونجي د لفظ پرته وي
چې مې کله په کوم شعر کې لږ ابهام وي

په درزا د زړونو يو بل سره پوه کړي
د مئينو هم عجيب طرز کلام وي

نېک نامي چې په پېسو وي په کوم چم کې
د "حسن" غوندې سړی پکې بدنام وي

✸

چې پيدا يې تل د بل په وينو پايي
غريضه به دې د ښکار کله سړه شي

چې دې خېټه لا تراوسه ډکه نه شوه
د پښتون په خوار بدن به څه مړه شي





## غزل

ډک له خندا يې ستا د شونډو گلزار چېرته وړی
د غم خزان له دې گلونو بهار چېرته وړی

درته تر ډېرو مې ساتلی و بېتابه نظر
اوس خبر نه يم چې د اوښکو ابشار چېرته وړی

ورته يې راوړه په لېمو کې ترهېدلې مينه
خو يې له زړه نه رانه خدايېزده قرار چېرته وړی

تل به د وړانگو په لباس کې چورليدلې تر ما
اوس دې له ستورو ستورو سترگو مدار چېرته وړی

لا خو مې توري دي په دې رنجو دتا په تمه
وخت مې له سترگو ستا د لارې غبار چېرته وړی

تورو تيارو يې راته تور کړل سپين سپېڅلي زړونه
خدايېزده زمونږ د جنگ له شپې يې سهار چېرته وړی

کړي ټوله شپه چې پټ پټوني پکې مست خوبونه
اوس دې له سترګو د "حسن" انتظار چېرته وړی

✸

سر و کار له داسې خلکو سره ستا دی
چې يې ټول کال د اپريل لومړی تاريخ وي

ته هم پاڅه نن تمرين د دروغو وکړه
کنه ژوند به دې "حسنه" پکې تريخ وي

✸

لاره غلطه کړي د سولې ورمې بېرته وځي
نوې لښکرې راشروع شي زړې بېرته وځي

بيا به په ټُورو او چړو ساتو وطن "حسنه"
دلته سرونه پاتې کېږي وسلې بېرته وځي





## غزل

اوښکو کې رانجه يې په رخسار څاځي له سترګو نه
څاڅکي د باران دي په انګار څاځي له سترګو نه

ما به يې د درد په څېر وې پټې درنه ياره خو
اوښکې د مئين زړه د پرهار څاځي له سترګو نه

نه دې راته خاندي ژړا هم د ښکلو ښکلې وي
پرخه يې شي اوښکې په ګلزار څاځي له سترګو نه

جوړې يې کړې بيا پکې، د پلو نښې دې ورکې وې
اوښکې لېونۍ مې ستا په لار څاځي له سترګو نه

مه مې وچوه اوښکې، خورې دې په ټټر کې شي
څاڅکي دي د شمعو په مزار څاځي له سترګو نه

ژوند ددې وګړو انتظار د مرګ کتار کې دی
څاڅکي دي د اوښکو په خپل وار څاځي له سترګو نه

شکر دی "حسنه" په يو چا خو مهربان دی ژوند
دلته که اوبه هلته خمار څاڅي له سترګو نه

✸

اسویلی مې د اشنا مخ کې ایسار کړم
سپېره باد دی په هېنداره باندې ګرد کا

زه چې ووايم چې سترګې مې خوږېږي
وايي نم کې دي ایسارې خود به درد کا

✸

نه يې په خوښه پيلوي د ذهن
نه سنجوي زړګی انجام د مينې

"حسنه" پام چې پښېمانه، نه شې
تر ګمنامۍ ښه وي بدنام د مينې





## غزل

د ځوانۍ زور دی زمونږ رضا خو نه ده
مينه چې کړو زمونږ ګناه خو نه ده

ولې مې غېږ کې ګبنۍ واخيستې
پړه خو په ما ده څه په تا خو نه ده

وربځو لمر پټ کړو پوهېدلې په ما
دا پاڅېده ما وې: رڼا خو نه ده

د ښو وار مه کړه قاتله به شې
د سترګو جنګ دی څه غزا خو نه ده

ولې يې تنګ شوې د درزا له شوره
زړه دی "حسنه" څه صحرا خو نه ده

يو شعر:
هم ناستی، انديوالي وي د وګړو
اعتبار چې پکې راشي ملګرتيا شي

✸

بې خولو حاصل ثروت ته خوشحالېږي
ددې ګټې له قیمت نه ناخبر دي
نن څوک غوږ نه ګروي په دې خبرو
خلک ټول "حسنه" بوخت په زور و زر دي

✸

د مکتب او مدرسې نصاب کې نشته
ناخبر له انسانیته چېرته بوځم؟
ګام په ګام د نفرتونو استاذان دي
نااشنا له محبته چېرته بوځم؟

✸

تش "حسن" نه دی اشنا چې
نفس سم اخیستی نه شي
سبک دې هم واخیست له وخته
هېڅ قدم اخیستی نه شي





## غزل

زړه مې مینې کړ رنځور درپسې راغلم
شول زخمونه یې ناسور درپسې راغلم

بوږنوونکي انتظار دې کړم پرېشانه
هوش مې ستړی شو مخمور درپسې راغلم

چې مې ستا د مټ په دار ولیدې ځنې
زه تر شا لکه منصور درپسې راغلم

ستا په مینه کې له شرکه وېرېدلم
له خپل ځانه شوم مفرور درپسې راغلم

د ماشوم غوندې مې زړه رېنګې اخیستی
تر پښو مې کړو غرور درپسې راغلم

ګوره سوال مې له خولې ونه وت جانانه!
هو منم له شا ضرور درپسې راغلم

نور مې خومره ازمویې؟ چې تا نارې کړې
تر غبږ وړاندې لکه نور درپسې راغلم

په پښتون غرور مې نه پوهېږي زړه دی
دې کور ړنګې کړم مجبور درپسې راغلم

د "حسن" مرور شعره، عشق به وکړم
ستا دا شرط مې دی منظور درپسې راغلم

✸

په فطرت کې شعر چینه وي رابهېږي
خو چې لاس پکې وهې نوره خوټېږي

د چا مینه وه "حسنه" چې شاعر شوې
د لاله ګل بې بهاره نه ټوکېږي





## غزل

ستا ښکلا په زياتېدو ده خو نظر زما کمېږي
عجيبه غوندې مقام دی د سفر لارې بيلېږي

له کوکارو د تناکو ډکه لپه مې نيولې
دعاګانو ته مې خدايه پکې ځای نه پيدا کېږي

ژوند ده زده کړه د کرکيلې د دماغ په کرونده کې
له تخمونو نه دفکر د تقدير حاصل ټوکيږي

څه جذبو ده سربداله څه مې روږدې غېږ کې نه ده
لکه نوې نيول شوې مرغکۍ داسې رپېږي

غمجن زړه ته ورکومه ټوله شپه درمل د اوښکو
هسې غم يې لږ نشه کړي سحر بېرته راپاڅېږي

ته له زور د زورورو خبر نه يې لا "حسنه"
معناګانې له لفظونو هم په زوره لوټل کېږي

## غزل

رانه پاتې شوې ارمانه غريبي ده
نور دې وړی نه شم قربانه غريبي ده

زړه دې راکړه زندګي مې پکې ګرو کړه
نور مې وس نشته جانانه غريبي ده

سرکشي مې سرته خېږي نور مې پرېږده
ګنهګار به شم اسمانه غريبي ده

چې رڼا يې د سکون لا تته نه ده
مونږ په مينه تل روښانه غريبي ده

هره ورځ وينې بهېږي بې له اوښکو
دلته خومره پرېمانه غريبي ده

بس لمنه به د هر سړي رانيسو
څوک راکش کړو له ګرېوانه؟ غريبي ده





په هر ځای کې سړی سوځي رنګ دې ورک شي
خو په مونږ کې بيخي ګرانه غريبي ده

تش جېبونه خو تش نه ژاړم "حسنه"
له وجدانه تر ايمانه غريبي ده

✸

د نفرت لپاره وخت راسره نشته
رقيبان مې دومره بوخت په محبت کړل

خړ او سخت ډبرين زړونه مې "حسنه"
د ايينو غوندې ځلانده په الفت کړل

✸

څنګه وايې چې دې نه منم هنر لا
زمزمه دې زما شعر وي تل پر شونډو

له هر لفظ سره مچکه ترېنه اخلې
ته چې لولې د "حسن" غزل پر شونډو

## غزل

اوس هم څم مېکدې ته مازدیګر کله نا کله
مینځم زنګ د غمونو د ځیګر کله نا کله

نور څه چې د هر ښکلي زنګانه ته مې سر لوېږي
غلط شي له رندانو نه خپل ور کله نا کله

موسکی مې کړم په غم کې هم لندې شونډې په اوښکو
بس کړم د زمانې خو به خاطر کله نا کله

عادت به شي په پېښو د بادارانو کې سرونه
راځوړند شي په دار ځکه یو سر کله نا کله

شي تنګه مې شوخي چې ډېره قید پاتې شي زړه کې
راومې وځي لېمو ته په چکر کله نا کله

راغلي مې پر سترګو دي پردې دتا د مینې
نو څه که مې په ښکلو شي نظر کله نا کله





ړنګ بنګ شي هغه کور چې وي خالي ،ځکه دردونه
"حسنه" ستا د زړه اخلي خبر کله نا کله

✸

د بل قام انقلابي چې په بدلون پسې راووځي
په همت او لوړه پوهه د تقدیر لار کړي بدله

خو افغان انقلابیان بیا تش ویښتانو ته زور ورکړي
یو راځوړند کړي برېتونه، بل کړي ګز رېره ببره

✸

وې: دا مچکه خو عنوان و هسې
لا خو مې پاتې افسانه د مینې

ټول پېغلتوب مې درته وساتله
نن مې درسپره خزانه د مینې

✸

دې بې ننګه بې وفا ته
ما وې: مونږ به په یوه خوله شو
ما چې ځان ترېنه راټول کړو
رانه پاتې مې بیا زړه شو

✸

پناه کېږي دم په دم رانه لمر مخي
پر مخ اوښکې راته پرېږدي لکه ستوري
رڼاګانې مې له زړه یوسي "حسنه"
پرې یو څو داغونه کېږدي لکه ستوري

✸

د منطق په حجابونو نه پټېږي
ستا تګ لوری ستا د فکر ترجمان دی
فضاګانې یې پرواز ته ولې تراشي؟
چې دې فکر په تېر کې بندیوان دی





## غزل

په اوښکو کې مې هیلې لوبېدلې لکه پېغلې
ګودر کې مې د سترګو زنګېدلې لکه پېغلې

بېګاه دې خاطرو چې کړم جانانه خوبولې
په تګ تګ کې په شا راتاوېدلې لکه پېغلې

روانې به وې تم به مې شوې اوښکې په لېمو کې
نن بیا زلمي ارمان مې غولولې لکه پېغلې

حېران وم چې مې څنګه دلاسه سړې جذبې وای
تصویر ته د ځوانۍ مې ژړېدلې لکه پېغلې

اثر د پردیسۍ و چې مې هیلې ټوله شپه بیا
په هره یوه خبره غریو نیولې لکه پېغلې

زړه ډک و د "حسن" کنه د ټول چمن ګلپاڼې
سازونو د وږمو ته نڅېدلې لکه پېغلې

## غزل

نن هغه سترګې جادوګرې نه وې
چې مې پر زړه، د زړه خبرې نه وې

کنه نن بيا څه هنګامه جوړېده
سترګو ته سترګې برابرې نه وې

ور مې د زړه در ټکولی نه شوای
راسره اوښکې وې، ډېرې نه وې

نن دې د شونډو سرخي نه ځلېده
نن پرې خبرې وې، ګورګرې نه وې

تش يې په عشق چې لېونی ولې کړم
څنې مې هم دومره ببرې نه وې

زما په لور يې لور د وروځو نه کړ
سترګې دې بيا هغه لوګرې نه وې





ولې مو وشيندلې بيا پر زمکه
ولې دا لوټې وې؟ کپرې نه وې

ته پکې ځای نه شولې پټې مې کړې
سترګې وړې وې دومره سترې نه وې

چې بيا راغلې وای "حسنه" زړه ته
هيلې خو څه روږدې کوترې نه وې

## مينه

ستا مينه
ستا په غرنۍ ځوانۍ کې
زما د زګېرويو
انګازه وه.

## غزل

څومره خاموشي وه د بنګړيو شور ته رانغلې
شپه د نوي کال وه ته ظالمه کور ته رانغلې

هرې يوې څړيکې يې دتا کيسه په ژبه وه
چېرته وې ناځوانه د پرهر ټکور ته رانغلې

لنډه د احساس مې شوه اوس ساه د عمر دشته کې
وار چې د ځوانۍ و ته د زړونو زور ته رانغلې

ما خو ستا لومړي مړاوي نظر ته څه منلي و
لاړې پسې لاړې بيا د مينې پور ته رانغلې

څه به دې "حسنه" اوس جذبې په ايرو ګرمې کړې
زور د پېغلتوب يې چې لمبې کړې اور ته رانغلې

**يو شعر:**
زرداران څنګه راضي دي له نصيبه؟
چې ورکړې يې په غم کې برخه نه ده





## غزل

ټيټ مې شو اخير نظر په اوښکو کې
عشق يې کړل لانده وزر په اوښکو کې

ستا کنګل د قهر ويلوی نه شي
ورک مې شو هغه اثر په اوښکو کې

ما چې ورته وکتل، دې وژړل
سوړ يې کړ په چل شرر په اوښکو کې

نه نيسي باران کې، چاک دېوال خټه
څنګه کړم کوشير پرهر په اوښکو کې

مه راځه ژړا کې د جانان خياله
ډېر دی د لوېدو خطر په اوښکو کې

ستا د غم تصوير يې چې جوړ کړی وای
کاشکې مې وای دا هنر په اوښکو کې

ورځ په دروغجنه موسکا تېره کړم
پاځم لکه گل سحر په اوښکو کې

خداېزده څه نسبت یې دی له کب سره
ژوند شو د "حسن" سفر په اوښکو کې

یو ظلم دا چې غوسه کړی یې یم
بل یې لا دا دی چې موسکی یم ورته

"حسنه" مه بوله ظالم ملامت
گرمه زما ده چې گونگی یم ورته





## غزل

په پسته ژبه یې کړي کلک له ما سره لوظونه
په وریښمین تار یې پېیلي څومره ښکلي مرجانونه

راترغاړه شوه چې تلمه لوند یې اوښکو لونگین و
چې مې پاتې دي د عطرو په جامو لانده داغونه

له ځوانی نه تر زړښته څومره لنډه فاصله وه
دا چې ما باندې اوږده شوه په زړه بار مې ووغمونه

دا مې خوږین د غم په اوښکو بدنصیبه اننگي شول
که باران پر سیند جوړ کړي د تناکو حُبابونه

زړه مې داسې چا داغلی چې یې سر په زنگانه کړم
شکایت که کړم "حسنه" زړه مې نور کړي فریادونه

## غزل

تيارې بدلوي رنګ د سباون په بهانه
له مرګ سره لوبېږو د ژوندون په بهانه

راپاتې بله نه ده څه اسره په زندګۍ کې
ژوندي د خپل نصيب يو د بدلون په بهانه

نور څه که مو له کوره کړي اغيار لمنې ټولې
زنځير به راکې پرېږدي د تړون په بهانه

خبر نه يم چې څه به مې حواس درنه ولجه کړي
راغلي ستا د سترګو د لمسون په بهانه

هم ته يې په ايينه کې او هم ته يې زما مخ ته
چې ګورم دې ککو ته د مضمون په بهانه

خود کړو به يې "حسنه" د غم پالو په مالت کې
خندا لکه د ګل د زړه چاودون په بهانه





## غزل

په پند د صبر يې درنې شي سترګې
زما په لور يې راکږې شي سترګې

سپينې خبرې مې کړه سره له غوسې
په سپينو اوښکو باندې سرې شي سترګې

چې ځاربدلې به له برندو سترګو
څه به په مړو سترګو مړې شي سترګې

څومره تراخه د زمانې وې پکې
خو په يو چا څنګه خوږې شي سترګې

داسې کوچنۍ مې شو غټ زړه ورپسې
لکه له خوبه چې وړې شي سترګې

شي يې د څښو لوګي خور د رباندي
"حسنه" تاته چې ډېوې شي سترګې

✸

ځينــو خلکــو تــه راځــي دولــت پــر ملاســته
بخت يې وينې وي دوی په خوب کې اسوده وي
ځينـــې کـــانې مـــاتوي پـــه غوڅـــو گوتـــو
خو يې بخت لا په دې شور کې هم ويده وي

✸

يو شعر:
پـــه فتـــوا کـــه رغېـــدل د قـــام زخمونـــه
دا وطـــن بـــه نړېوالـــو تـــه روغتـــون و

✸

مـــزد د غوڅـــو گوتـــو درنـــه، نـــه غـــواړم
پـام پـه پـاچهي کـې مـې مـزدور نـه کـړې
شـــنه پکـــې ازغـــي د پېغورونـــو دي
لار د بېرتـه تـگ تـه مـې مجبـور نـه کـړې





## ملنگ او پاچا

(مرکزي خيال يې له اردو نثر نه اخيستل شوی)

وايــي چېرتــه پــه يــو ه ملـک کــې يــو پاچــا و
نـــوم يـــې تلـــلی هـــرې خـــوا تـــه د ســـخا و

يــوه ورځ يــې يــو ملنــگ راوســتو څنــگ تــه
شـــاهانه ډوډۍ يـــې کېښـــوده ملنـــگ تـــه

ملنـــگ وغوښـــته ايينـــه لـــه نوکرانـــو
وې: راتـــول شـــئ د پاچـــا صـــيب درباريـــانو

يــوه گولــه يــې لــه شــاهي ډوډۍ کــړه پورتــه
پـــه ايينـــه يـــې وموښـــله کتـــه پورتـــه

دې سره شـــوله ځلانـــده ايينـــه خـــړه
پـــه غـــوړو د شـــاهانه ډوډۍ شـــوه غـــوړه

بيـا راخلاصـه يـې لـه څنگ خپلـه څـولۍ کـړه
رابهـــر يـــې يـــوه ټوټـــه وچـــه ډوډۍ کـــړه

خړه پړه ایینه یې پرې صفا کړه
ننداره یې په ډېر پام سره پاچا کړه

وې: چې کوم خواږه ایینه کړي داسې خړه
د زړه خونه به هم داسې کړي چټله

ځکه نه وروړم زه لاس داسې خوړو ته
نه یې خورم نه یې وروړم خپلو وړو ته

پاچا وغوښته معافي وې: شرمسار یم
ستا که هر ډول خدمت وي زه تیار یم

ملنگ ووې: نور څه نه غواړم له تانه
یوه غوښتنه مې راوړې ده اسانه

له دې ماشو او مچانو نه په تنگ یم
شپه او ورځ اخته له دوی سره په جنگ یم

حکم وکړه چې له مانه لاس په سر شي
چې بې غمه مې له دې شره تېر شي

پاچا ووې چې عاجز یم له دې کاره
نور که هر څه وي کوم یې ستا لپاره





دې مخلوق باندې مې حکم نه چلېږي
حشرات دي له پاچا نه، نه وېرېږي

ملنگ وخندل پاچا ورته حېران شو
له پاچا نه ملنگ ورو ورو راروان شو

وې: چې ستا په حشراتو قدرت نشته
د ملنگ هم داسې چاته حاجت نشته

✸

د سمندر دومره مالگیني اوبه
دا خو به ډنډ زمونږ د اوښکو نه وي؟

دا چې د ژوند په نوم یې وړو په اوړو
دا خو به پنډ زمونږ د اوښکو نه وي؟

## غزل

ته مې سبب که بهانه يې د ژوند
وايه توپان که اشيانه يې د ژوند

ما پنځاوه ځان، خو مې وموند درکې
ته څومره لويه خزانه يې د ژوند

دا مې د زړه د جوارۍ ګټه وه
اوس چې زه رند، ته مېخانه يې د ژوند

چې مې تېر لا مېزباني کړې د ساه
د مرګ په شور کې ترانه يې د ژوند

لوړې ژورې به لا ډېرې راځي
لا خو دې لولم افسانه يې د ژوند

ته يې په خپله هم ګوتلی نه شې
"حسنه" داسې پېمانه يې د ژوند





## غزل

لکه لا اوښکې څڅېدلی نه يم
ستا په بڼو کې زنګېدلی نه يم

سترګې دې مه اړوه ګوره راته
لا په مطلب يې رسېدلی نه يم

په تغافل دې کنګل شوی نه دی
چې دې له زړه لا ښويېدلی نه يم

پام کړه له خولې نه مې خوله لرې نه کړې
لا دې رګو کې بهېدلی نه يم

وړي لکه خلی مې که باد د پېښو
سترګو کې چاته ورلوېدلی نه يم

د وطن څړيکې مې په شونډو رغړي
د ځان له درده چغېدلی نه يم

مینه کوم خو پښتنه "حسنه"
چاته په پښو ورغورځېدلی نه یم

✸

ژوند دا نه دی چې محروم یې له کوم شي نه
نو هغه پسې دې ټول ژوندون ایره کړه

بلکې څهٔ چې خدای درکړي دي په لاس کې
د هغه سره د مینې هنر زده کړه

✸

ګل ته دې چې وخندل روانه شوې
څه خو به خوشبو درته ویلي وي

دومره خو له ځان نه څوک شرمېږي نه
څوک خو به په زړه در ورېدلي وي





## غزل

خدایزده لا څه ته انتظار دي خلک
د ژوند په جرم بیا په دار دي خلک

له هر سړي نه سړیتوب مه غواړه
ځینې د دار ځینې د ډار دي خلک

خبر د مرګ له کږلېچونو نه دي
چې دې غمجن ژوند ته تیار دي خلک

په ترمو اوښکو چې خندا ومینځي
دومره ساده نه دي هوښیار دي خلک

مونږه سینې کړې لاله زار په چیغو
له بهارونو نه بېزار دي خلک

څنګه به ووینې له باندې ځان ته
ځان کې دننه چې ایسار دي خلک

پر شکايت ستا ملامته نه دي
"حسنه" څه وکړي وزګار دي خلک

✸

ته به نن جبر د وخت يې بادار کړې
زه له موره موروثي اقا پيدا يم

ګستاخي مې جګ سر مه ګڼه نادانه
له ادب د غلامۍ نه نااشنا يم

✸

له بې وسۍ نه چې خلاصېږې موري!
څلی زما به وي هوار په ځمکه

راپسې مه ګرځه ادکې موري
زه اوس ويده يمه قرار په ځمکه





## غزل

درته تخنېږي مې اشنا لاسونه
وهي پر زړه مې ستا اروا لاسونه

ګل تر ګلپاڼو چا نيولی نه دی
راشه راتاو دې کړم تر ملا لاسونه

اوس پکې خپل او پردي نه پېژنو
راکې لوېدلي د دنيا لاسونه

ته وا ګلخانګې پر دېوال واوښتې
تا چې چاپېره کړل تر ما لاسونه

ډېر يې له شرمه راکتلی نه شو
بس ښورول يې پټ تر شا لاسونه

راشه د زړه جېب ته مې زړه ونيسه
ولې وهې پکې په غلا لاسونه

اوس هغه سر کېږدم د چا په زنګون
تل به وهل چې پکې تا لاسونه

دومره بخيل شوم چې دا ستا په څڼو
نه مې لوربړي د هوا لاسونه

درته مې راوړي د تناکو ځولۍ
پکې راتش کړه د موسکا لاسونه

"حسنه" کېږده سر په تيره باندې
اوس به ترې لاندې کړې د چا لاسونه؟

✸

هر زياتی منم خو دا په ياد لره
يو د بل له سترګو نه به لوېږو نه

پرېږده سترګې يو بل ته کيسې وکړي
زه او ته اشنا سره پوهېږو نه





✸

راځئ موسکي شو تر ماښام د اختر
خداېږده چې څه به وي انجام د اختر؟
که پکې ونه خاندو بيا هم سبا
رانه به اخلي انتقام د اختر

✸

چې دې ورک فکرونه بيا کړم سره وصل
دومره ډېر هم خوش نصيب نه يم جانانه
واک د هر رنځ د درمل مه راته سپاره
زه "حسن" د زړه طبيب نه يم جانانه

✸

چې احساس يې وي نالوستی
ورته مه ليکه ليکونه
ستا پر شونډو لوستی نه شي
دا پتري لفظونه

## غزل

داسې مست دې کړم په بد او ښه کې نه یم
نور جانانه ستا په "ته" او "زه" کې نه یم

هسې عشق مې د نظر مهار شولی
کنه یاره دومره بد په زړه کې نه یم

د خپل فکر خپلواکي مې سرمایه ده
نور د مرگ او د ژوندون جگړه کې نه یم

گرد د پښو دې یم لا بار په اسویلو یم
پرېوتلی دې د تلو په پله کې نه یم

څه که مور پښتونولۍ په خېټه نه کړم
ولاړ کړی یې د چا په وره کې نه یم

چې د سولې او جنگونو تجارت کړي
شکر خدایه د هغوی کاله کې نه یم



دا شپې به شي یادونه

نورې لارې مې ستا زړه ته پیدا کړې
نور دې یاره ډېر په "هو" او "نه" کې نه یم

کوم کمبخته بیا د شک په رنځ اخته کړې
لکه خوند چې دې اوس بیا په خوله کې نه یم

چې هر شی راته کوچنی کوچنی ښکاره شي
اوس "حسنه" د ځوانۍ په غره کې نه یم

**یو شعر:**

غوړوو یې کله سوال ته کله اوښکې کړو پرې پاکې
نور مو هر څه رانه لوټ کړو دا لمنې خو راپرېږدئ

## غزل

پر مخ يې اوښکو پنځولي ستوري
سپوږمۍ ته بيا جرګه راغلي ستوري

له ډک ورغوي د اسمانه ځنې
زمونږ د بخت دي څڅېدلي ستوري

دا چې نن بيا دومره ځلانده ښکاري
مونږ دي په اوښکو لمبولي ستوري

که مې راوڅنډل د زړه لپه کې
شي د ږلۍ غوندې به ويلي ستوري

دتا د غم د هرکلي لپاره
تار د بڼو کې مې پېيلي ستوري

د کوم مئين د زړه داغونه به وو
دا پاس اسمان ته چې ختلي ستوري





دا خو زما د ورک منزل نښې دي
دتا په سترګو کې ټومبلي ستوري

زمونږ د غم له تورتمونو ځار شه
ستا چې د بخت دي ځلېدلي ستوري

"حسنه" ستا د يار غاښونه، نه دي
درته په ځمکه رالوېدلي ستوري

✸

مونږ به واچوي خاشاک غوندې په غاړه
زندګي لکه درياب به وي روانه

کارولی يې څوک نه شي، بس تر مرګه
مطالعه د دې کتاب به وي روانه

## غزل

د ســــپېځلو زړونـــو ژبـــاړې شي جـــونګړې
پـــه هـــر غـــم كـــې ورترغـــاړې شي جـــونګړې

ژاړه مـــه هيلـــو دې جـــوړې دي لېمـــو كـــې
لـــــه اوبـــو سره بـــــه لاړې شي جـــونګړې

مـــونږه هـــم كـــه پـــه زخمونـــو پټـــې كړېدو
د دردونـــــو بـــــه ويجـــاړې شي جـــونګړې

د محـــل مغـــرور دې اوس ورپـــورې خانـــدي
خـــو يـــو وخـــت بـــه ورتـــه داړې شي جـــونګړې

مېزبـــاني د زرپرســـــتو پكـــې نـــــه كـــړو
پـــه دې ګنـــد بـــه مـــو مـــرداړې شي جـــونګړې

يو شعر:
خـــو بـــس بلـــې ســـتړې ورځ تـــه تيـــارى وي
د پرديســـو مزدورانـــو بـــه څـــه شـــپه وي؟





✸

يو شعر:
ســپينه ورځ كــړې تــوره شــپه پــر ځــان "حســنه"
يـــادوې چـــې تـــورې ســـترګې، تـــورې څنـــې

✸

يو شعر:
پـــــه قـــدم قـــدم بـــــه غـــــږ د اذان اورې
خـــو ځپلـــى مســـلماني پســـې زړېـــږي

✸

تكلـــف د انتظـــار يـــې مـــخ تـــه مـــه كـــړه
ويرانـــــه ده زمـــــا زړه، ور پكـــــې نشـــــته

بـــــې وسي ده پكـــــې كـــــډه اړولـــــې
شـــور پكـــې دى خـــو اشـــنا ! شر پكـــې نشـــته

## غزل

پرهر ته د نظر پکې درمل به وي که نه
مطلع ستا په لېمو کې د غزل به وي که نه

مونږ روږدي يو نصيب په ملگرتيا د خپلو اوښکو
اشنا چې ستا په مينه کې ژړل به وي که نه

ورځه وروسته به پوه شې چې مې ساز ته د يادونو
په زړه کې ستا د څړيکو نڅول به وي که نه

قدم ږدو په کوپړيو په مورچل د ورور ورخېږو
مزل خو مو معلوم دی چې منزل به وي که نه

تصوير مې بس په سترگو کې ساته موسم د جنگ دی
اسانه خداېزده بيا زمونږ ليدل به وي که نه

کړم خور به يې "حسنه" ورپسې خو راته وايه
په مينه کې د زړه راټولول به وي که نه





## غزل

حُسن که ارزان شي ستا به څه کم شي
سود به مې تاوان شي ستا به څه کم شي

خامه خوله دې گورم خوله به نه وروږم
پوخ به مې ايمان شي ستا به څه کم شي

ستا په تور دې هر څوک لاس راواچوي
پرې به مې گرېوان شي ستا به څه کم شي

يو ځل راکتل خو تاته گران نه دي
ځان به راته گران شي ستا به څه کم شي

نور دې وارخطا کړل خفه کېږه مه
يو که پکې وران شي ستا به څه کم شي

ستا نامه به هم ورسره ياده شي
زوړ "حسن" که ځوان شي ستا به څه کم شي

✸

هسې دا قام چا بې سببه دردولی نه دی
چا د مذهب په نوم کړ لوټ او چا د قام په نامه
له قربانۍ نه د حېوان خو وم خبر "حسنه"
اوس خو انسان هم حلالېږي د اسلام په نامه

✸

دلته مه وهه پاچا پر جېب لاسونه
د هنر په بازارونو کې دام لوړ دی
په ستاینه کې دې شعر ویلی نه شم
د دربار له منارو یې مقام لوړ دی

✸

څه به پوه شي چې له څه راځي دردونه
چې پر زړه باندې یې نه وي پرهرونه
اوري نه که یې ملنګ په دروازه هم
د زنځیر په شرنګېدو جوړ کړي زخمونه





## غزل

د درد کیسه درنه له سره نه شي
خولې ته مې را د زړه خبره نه شي

ستا په نظر کې برسېرنه مینه
په ټوکو ټوکو کې ژوره نه شي

ترې به راوښوېږي راز، مه ژاړه
لنده د زړه درنه ډېره نه شي

د وصل جنګ ته دې حیا راوسته
جذبه د عشق پرې زوروره نه شي

له غمجن زړه پرته درځمه اشنا!
چې خوشحالي دتا اوتره نه شي

"حسنه" مه تراشه په سوز لفظونه
سانده د زړه درنه سندره نه شي

## غلچکۍ سترګې

ته چې تلې له زړه مې هيلې رژېدلې
اسویلو مې لکه پاڼې بادولې
چم پر ځان د خزان زېړ څادر راخور کړ
اسمان ډکې ډکې سترګې غړولې

غلچکۍ سترګې مې نه دراوښتلې
بدرګې د پلوشو درسره تللې
تا مقتل ته د جفا هم که بیولې
قافلې مې د جذبو درسره تللې

شور د زړونو د درزا کم شوی نه و
لا تسکين پکې ارمان مونډلی نه و
تسلسل مو د ساګانو لا مات نه و
دې کيسې ته مو عنوان مونډلی نه و

دروازه پرېږدمه خلاصه چې ويدېږم
په دې تمه چې شايد ته بېرته راشې
او زه لوڅې پښې درمنډه کړم ناڅاپه
اول موسک شې بيامې غېږ کې په ژړا شې





اوس مې ګونځې د تندي د بستر ګوره
اندېښنې پکې دتا اوړي راوړي
سوځوم د ورځې سترګو کې خوبونه
خو ايرې پکې بېګاه اوړي راوړي

راستنې هغه شپې نه شوې کنې وې
ما که هر څومره اشنا پسې نارې کړې
پړکېدلې پسې شاته چې لږ تم شئ
ورته اوښکو ايينو مې اشارې کړې

هسک ديوال د تنهايۍ دې رانه تاو کړو
انګازه بس د سلګو دې راته پرېښوه
ګلابي بدن دې ټول کړو رانه لاړې
نشانه بس د خوشبو دې راته پرېښوه

خير که اوس مو فاصلې ترمنځ پرتې دي
پر غاټول دې چې نظر شي يادوه مې
زمزمه مې د نامې چې هېره نه کړې
اسويليو د ماښام کې بادوه مې

## غزل

چاره ستا د کوم ستم وکړم په څه
نه پوهېږم چې ماتم وکړم په څه

سترګې پټې کړم رنګين خوبونه وينم
درملنه نور د غم وکړم په څه

په ستم دې شم موسکی درته جانانه
هرکلی دې د کرم وکړم په څه

ستا په حُسن مې سوګند دی چې دتا يم
وايه نور درته قسم وکړم په څه

راپه ياد مې بې وسۍ که ستا جفا کړم
ازموينه مې د زغم وکړم په څه

مشوانۍ کې مې د زړه ډوب کړ "حسنه"
نور تسکين ستا د قلم وکړم په څه





## غزل

بيا د نم ښکالو دې اورمه ته نه يې
د شبنم ښکالو دې اورمه ته نه يې

لکه بيا دې چې يوازې رالېږلې
چې د غم ښکالو دې اورمه ته نه يې

عشق مې حس د اورېدو هم لېونی کړو
د قدم ښکالو دې اورمه ته نه يې

هر يو دم دې لټوم ژونده په ځان کې
تش د دم ښکالو دې اورمه ته نه يې

ستا کتاب د شعر "حسنه" لټومه
د قلم ښکالو دې اورمه ته نه يې

## غزل

ورک له تا يې نوم او لوری شو جانانه
غم زما د غزل توری شو جانانه

اوښکې اوس هم ورکوم، نه نشه کېږي
اوس دې غم لژکې سرزوری شو جانانه

تر سحره مې په سترګو کې ځلېږي
هر يو ياد دې راته ستوری شو جانانه

نه دې لمر د خيال ډوبېږي نه دې مومم
سرګردان راسره سيوری شو جانانه

لوظ يې ستا د ديدن کړی راسره وو
خوب مې هم راته بدپوری شو جانانه

چې تشبيه دې کړي له لمر سره خولې شي
"حسن" تا پسې کمزوری شو جانانه





## غزل

چې له غېږې نه مې لرې د وطن يم
که د ګل غوندې هم نرم يم ازغن يم

بې حسابه دې په مينه کې عادت کړم
اوس مې څه پوښتې اشنا چې څو کلن يم

هر ګوزار اول پر ما د تهمت لګي
ته که تن د محبت زه يې څرمن يم

حقيقت مې په زېړ رنګ پرمخ کاږلی
په سبب د خاموشۍ مې دروغجن يم

اوس مې تن د خپل وطن پر لباس پټ دی
اوس د خلکو د خندا نه يم شتمن يم

نور مې هر څه که ګڼې، خو تاته ياره
نه اديب يم، نه طبيب يم بس "حسن" يم

## سیوری

لکه مزدور چې د دېوال سیوري ته
غوړونه څک ونیسي ګوري هر لور
کله یې پام شي چې ترې سیوری درومي
کله قدم ته د لارویو ګوري
داسې یم ناست د انتظار غرمه کې
ستا د وعدې د دېواله په بېخ کې
د امید سیوري کې شېبې شمارمه
خو نه ته راغلې نه تم کېږي سیوری
غرمه پخه شوه او کمېږي سیوری

رنګ او بوی راته ډالۍ کړه
پسرلي مې درلېږلي

پرې راوالوځه جانانه
اسویلي مې درلېږلي





## هغه خبره

ستا به زړه و چې په زړه کې دې شي پاتې
خو ژړا به درنه شوه هغه خبره
چې به زړه کړو تا درغځ چې ماته یې وکړې
بس موسکا به درنه شوه هغه خبره

تا به وې: عشق لېونی غوندې موسم دی
په وریځ او شین اسمان مې باور نشته
درته توری به مې سترګې په رنجو وای
خو د اوښکو په باران مې باور نشته

ته هم هېڅ نه پوهېدې چې څه روان دي
موسېدې او شرمېدلې به له مانه
د بنګړو شرنګ به دې وې چې مه کړه مه کړه
چې ناڅاپه تښتېدلې به له مانه

چې ګوزار مې د نظر کړل پکې کاڼي
شو تالاب دې د ځوانۍ څپې څپې
انګازې دې د نغمو د زړه خورې شوې
شوې ساګانې د مستۍ ټپې ټپې

شوندې مه چيچه نادانې په غاښونو
زه منکر يم له مذهب د جدايي
په سبب مو زړونه، نه وو وصل شوي
چې سبب مو شي سبب د جدايي

ټيټ مې عقل لکه ښاخ يې شو څپو ته
هوښياري مې نوره ياره ورته پرېښوه
سرکشي دتا د حُسن د توپان وه
چې مې ذهن تر زړه لاره ورته پرېښوه

مخنيوی د بې خودۍ په محبت کې
نه په زور نه په غرور کېږي جانانه
چې خُماري څلور سترګې سره ورشي
څه نا څه خو به ضرور کېږي جانانه





## ژوندون

ژوندون څه دی
يو کتاب دی
چې تر هغو لوستل غواړي
ترڅو سترې شې او ورو ورو
د مرګ خوب درباندې راشي
دی دې پاتې پر سينه شي
پرښته يې په قلاره
درنه يو طرف ته کېږدي
خپل خپلوان دې راخبر شي
او څادر د سپين کفن دې
پر بدن باندې راخور کړي.

يو شعر:
پرستش ته يې د حُسن د الفت نامه ورکړې
ښکلو څنګه کارولي په هنر زمونږ جذبې دي

## غزل

پټ به دې په غېږه کې د مینې کړم
بیا به دې ساګانې لونګینې کړم

سپین مخ یې رالوڅ کړو بیا یې وې چې نن
ډېرې به خبرې درته سپینې کړم

شونډو ته یې کش کړې ویل یې راشه چې
ګوتې په حنا درته رنګینې کړم

ته راته موسکې په ورین تندي اوسه
شپې مې چې د عمر ماجبینې کړم

وړم ترې د غم وریځې په اهونو کې
ورځې به اشنا درته لمرینې کړم

ته د مستۍ لمر شه پرې راوخېږه
زه چې مې جذبې درته واورینې کړم





بیا مې رنګ راوړی د "حسن" د شعر
بیا به دې شېبې درته حسینې کړم

✸

تورن مه شه په ګناه د محبت څوک
هېڅ به غږ د انصاف نه شي کړای دنیا ته

بس له خپل قاتل اشناپرته "حسنه"
معصومیت به یې معلوم نه وي بل چاته

✸

د هنر عجاز یې ګوره
د موسکا رسم پر شونډو
د لېمو پر سپینو پاڼو
د زړګي د پرهرونو
په سپین رنګ د سپینو اوښکو
رسموي سره تصویرونه

## غزل

خومره چې دتا راسره مينه شوه
هومره زندګي راته حسينه شوه

ستا د پېغلتوب سپرلي کې ورغښته
بيا مې چې غزله ګلورينه شوه

سره شوې له غوسې او که له شرم نه؟
کومه يوه جذبه دې اور ورينه شوه

ستا شغلې د مخ يې منعکسې کړې
هر څو که زما جذبه واورينه شوه

ما وه اورېدلي د بل چا څنې
مخ يې کړو رالوخ خبره سپينه شوه

ستا د مخ سورخۍ سره ملګرې شوه
ورکه په کتو دې راکې وينه شوه





اوس وايي "حسنه" چاته مه وايه
اوس چې هره سا مې لونګينه شوه

*

په زاريو چې لويي غواړي هلک شي
د درنښت په تکل ووځي خو نور سپک شي

خړ دېوال ته دې تکيه ښه ده "حسنه"
د رنګينې دنياګۍ منت دې ورک شي

*

په غوښينه نرمه ژبه
سره نه چې کړي خبرې

زر راوا به خلي "حسنه"
په يو بل پسې ډېرې

## غزل

چې قدم مې ایښی ستا پر استانې دی
رانه هېر نام و نشان د مېخانې دی

چې راوځاځي کاغذ په لاس کې راکړي
دا قیمت د هرې اوښکې دُردانې دی

کوز لاریون د انسانانو دی د سولې
پاس مارغه وړی تشویش د اشیانې دی

هېڅ توپیر پکې د اور او رڼا نه شي
محبت لکه جنون د پروانې دی

تش جېبونو ته مې مه گوره خوار نه یم
زړه مې ډک د اطمېنان له خزانې دی

غم ښادۍ مې پرې ونه تلئ ملگرو!
زما خندا او ژړا دود د زمانې دی





"حسن" لوست د اوښکو زده کړو پر ژوند پوه شو
اوس استاد د دې غمجنې افسانې دی

٭

یو د زلفو په ماښام کې غزونې
بل پکې د سترگو تورو مشالونه

بیا هغه له رڼا ډک ماښام رانغی
اسمان بَل کړل ډېر د ستورو مشالونه

٭

ځان دې زما په غیبت لوخ لغړ کړو
د خپل دښمن نیمگړی کار دې وکړو

کانې دې پرېوتو له لاسه په پښو
زما یې څه؟ په ځان گوزار دې وکړو

## غزل

هر سړی چې ستا د سترګو په کاته شي
د "حسن" د بېت مسرۍ يې ور په زړه شي

باغ چې پوخ شي د مېوې مېوه پسته شي
نرم خوی شي چې فکرونه يې پاخه شي

چې ګنډلو ته د زړه د زخم کېنم
تار دې زلفې شي او ستنې دې باڼه شي

اختلاف کړي په هر څه کې دغه خلک
خو چې تاته کړي نظر په يوه خوله شي

په ليدو دې "حسن" زېړ لکه ناروغ شي
نه يې درد وي او نه تبه دا به څه شي؟





## د تخيل موسيقي

هره خوا تياره د زلفو خورېدله
د حيا جذبه په ورو ورو تخنېدله

د يوه مخ شمعه مې خوا ته بلېدله
ستړي اسوېلو ته رپېدله

هر يو دم مې دم خاته له هر اندام نه
يوه درزا مې په سينه کې زياتېدله

وارخطا مې شوې ساګانې په ټټر کې
هره يوه په منډه منډه څغلېدله

بوړنېدلې مينې وکړې غزونې
په بريدونو کې د بريد نه تم کېدله

د مستۍ د پيالو وېش فضا شروع کړو
موسيقي د تخيل مې غږېدله

په پښو کې يې گونگري وو د لفظونو
د "حسن" د غزل پېغله نښېدله

✸

خورې زلفې مې پرمخ له نازه نه دي
په زندان د ژوند کې گورم تر سيخونو

شايد ځينې به خالونه ورته وايي
د چا نوم مې ټک وهلی پر مېخونو

✸

نن مې بيا په بستره کې بدلول خوبړمن اړخونه
ستا يادونو ټکولې د خوبونو دروازې مې

تور لباس يې و د وربېځو په تن کړی په ژړا و
نن اسمان هم درک کولې د دردونو اندازې مې





## غزل

هره سترگه مې کندول دی مازديگر دی
تا لا ځان ولې راټول دی مازديگر دی

وې: په منده راته ښکته پورته ځير شه
ددې وخت ديدن په تول دی مازديگر دی

له غروب سره داغونه پرې ښکاره شي
زړه مې بيا لکه غاټول دی مازديگر دی

د نظر رمې يې بندې کړې کوز گوري
ترې يې تاو د بنوشپول دی مازديگر دی

له رڼا يې کړه راډک، شپه په راتلو ده
لا مې تش د زړه کچکول دی مازديگر دی

راشه ساه واخله د ځمو په ورمو کې
که دې زړه "حسنه" زمول دی مازديگر دی

## غزل

ورک دې زغم شي هم ماتم، ته رايادېږې
يو مې هم نه شو ملهم، ته رايادېږې

اوس غزلې نه ليکم، ته رايادېږې
چې راواخلمه قلم، ته رايادېږې

گل چې وخاندي تصوير شي ستا د شونډو
چې ترې څاڅي هم شبنم، ته رايادېږې

هر يو گوټ د چم دتا څيره اغوستې
پکې اخلم چې قدم، ته رايادېږې

يو خو تل راسره مل د تنهايي وي
چې رخصت دې کړمه غم، ته رايادېږې

راته بله اوس چاره لټوه ياره
چې دې څومره هېروم، ته رايادېږې





اوس په بيړه د "حسن" په شعر تيرېږم
ورته څومره چې شم تم، ته رايادېږې

✸

که سل ژبې لکه گل هم ورسره وي
حاجت نه لري اظهار ته ښکلي خلک

لار د بيا راستنېدو کړي ځان ته ورکه
په تلاش د خپل شهرت وتلي خلک

✸

ستا غوسه دتا د عقل اختتام دی
درنه لاړم نور مې دلته کار تمام دی

مهارت د حماقت راسره نشته
په دوه لاسو مې اشنا درته سلام دی

✸

یو شعر:
د لفظونو انتخاب که ضروري دی
په لهجه باندې هم واک ساتل پکار دي

✸

راشه زړه کې مې سودا وکړو دمینې
دلته بل د جنون داسې دکان نشته
رسوايي به مې سبب ستا د شهرت شي
سراسر مې هم په عشق کې تاوان نشته

✸

دا تخریب که د مکتب او دا لوټمار وو
د زندان د جوړېدو پیسې به نه وي
د انصاف تله به خلک لاس کې واخلي
د قاضي او محکمې کیسې به نه وي





## غزل

زغم مې اشنا د ننګولو نه دی
دا سرعام د ازمویلو نه دی

نور مې له پاڼې پاڼې ژوند څه غواړې؟
نور دا کتاب د اړولو نه دی

پرېږده چې راز مو هسې راز پاتې شي
اور دی اشنا د لوبولو نه دی

د مینې ګل شو رانه پاڼې پاڼې
ږدم یې کتاب کې، د ټومبلو نه دی

پرېږده چې پروت وي تار په تار "حسنه"
نور دې ګرېوان د ټولولو نه دی

## غزل

زمونږ د تعلق دې نن اشنا خلکو ته څه وویل؟
زه خو موسکی شوم خو چې تا خلکو ته څه وویل؟

چې یې سبب درنه پوښته د ناتمامې موسکا
نو ته او خدای تا په رښتیا خلکو ته څه وویل؟

سترګې یې غوټه کړې په ما کې چې ته تېره شولې
چې ستا د مړو سترګو ادا خلکو ته څه وویل؟

چې یې فضا کې ستا د مخ لیدو باران په لمر کې
ستا د لندو سترګو موسکا خلکو ته څه وویل؟

ما کړو تبلیغ د محبت دوی کاروبار د نفرت
زه یې کافر کړم خو دنیا خلکو ته څه وویل؟

چې وچې دښتې یې د سترګو شوې لندې په ژړا
د بې وسۍ دې په خندا خلکو ته څه وویل؟





په ورکو لارو کې چې هم و لا خوشحاله "حسن"
تا نو اخیر ددې ګمراه خلکو ته څه وویل؟

✸

سوړ اسویلی یې شو شاهد د مینې
غوټۍ شوه ګل خوشبو ترې والوتله

پرمخ یې سرې ګلپاڼې وغوړېدې
شنه دوپټه په ورو ترې والوتله

✸

تا چې لوټ کړم زه له مانه
شوې د غلې غونډې روانه

په رښتیا چې نه تم کېږي
غل له غلا وروسته جانانه

## غزل

هیڅ یو غم نه و ځواني وه
په هر څیز کې به مستي وه

نه غرور نه سرکوزي وه
بس د لوی خدای بندګي وه

د خندا دښمنه نه وه
که به هر څو غریبي وه

جنګ جګړه کې وژل نه و
د کوچنیانو ساعتیري وه

په هیڅ پوښ کې پټه نه وه
لکه ګوره زندګي وه

خلک وایي سادګي وه
سادګۍ کې خوشحالي وه





شی به نه و ما به غوښتو
بس "حسنه" سرزوري وه

✸

خدای لپاره عشق مې مه ګڼۍ چې داغ دی
تیاره زړه کې مې همدغه یو څراغ دی

د "حسن" د شعر بها پکې ځای نه شوه
ډک له خیرو د هوس نه یې دماغ دی

✸

ظالم عمر به دې عمر باندې مور کړي
ارمانونه به دې ځوان وي تا به زوړ کړي

اور د هیلو به دې بَل پرېبږدي په زړه کې
خو بدن به دې د واورې غونډې سوړ کړي

## سوړ باد

په سوړ باد د اسويلو کې
چې ناڅاپه خولې ته راشي
دا اوکه اوکه روانې
لکه ستړي چې شي زاڼې
تکې زېړې زنګ وهلې
دم ختلې لکه پاڼې
رژېدلې له ځوانۍ دي
دا زما د شعر مسرۍ دي.

✸

خړ او پړ او اواره ښه يم "حسنه"
لکه ګرد لېکم کيسې د بې وسيو

د تڼاکو مې پر زړه څلي ولاړ دي
سوځولی يم لمبې د بې وسيو





## غزل

په دې پوهېږم ژوند کې پند پاتې دی
خو خدايږده څومره پکې ژوند پاتې دی؟

زنځير د اوښکو مې نازک مه ګڼه
زورور غم دې پکې بند پاتې دی

پرې څڅوم اوښکې، بې مالګې نه دی
غم کې دې اوس هم بلا خوند پاتې دی

زړه مې سوری، اوښکې ترې په موسکا
اوس بس يو دا د شګو بند پاتې دی

په څُوړ نظر درته لا ګوري خلک
"حسنه" شعر کې دې لا قند پاتې دی

**يو شعر:**
مونږ کاږه کاروانه سم نه کړل "حسنه"
يار دې ولونه جوړوي له سيخو زلفو

✸

له پاخه تنور پخې ډوډۍ راوځي
زړه دې پوخ کړي چې خبرې يې پخې شي
مارغان ځالو کې خوندي وي له خطره
الواته کړي چې وزرې يې پخې شي

✸

يو شعر:
په گرداب کې د نفرت چې سر پرې گرځي
له نغمو د ابشارونو څه خبر دي

✸

پر زلفانو دې مخ پټ رانه هوا کړو
رقابت دې په فطرت کې راپيدا کړو
سره وران چې ناظرين وو ،تاته گوري
هر نظر دې د وحدت سره اشنا کړو





## غزل

غم دې بيا راباندې زور دی مازديگر دی
لکه لمر زړه کې مې اور دی مازديگر دی

دلته هم دي هنگامې زما په زړه کې
هلته هم گودر کې شور دی مازديگر دی

دومره ولې مې حيران سترگو ته گورې
سور شفق چې پکې خور دی مازديگر دی

رانږدې چې شوې رقيب په زمکه پرېوت
لکه سيوری مخ يې تور دی مازديگر دی

ته ورځه طبيب "حسنه" خدای دې مل شه
اوس مې زړه يو څه ټکور دی مازديگر دی

## د زړه کاڼی

څه که لمر په ډوبېدو دی
او تور سیوري رانه غټ دي
لکه تور فلم د عکس
ډېر رنګونه راکې پټ دي

نن که تور یم لکه سیوری
خو رڼآ یم پنځولی
ځم غځېږم بل سحر ته
تمنا یم پنځولی

د تن ونه مې ده هسکه
په تاریخ کې مې ریښې دي
غوڅو څانګو ته مې ځیر شه
تر پخوا نه هم اوږدې دي

تا که اور پر زړه رابل دی
او لوګي مې له خولې خېږي
اوس دې زړه کړو راته تیږه
په لمبو دې لا سختېږي





وه کم عقله فکر وکړه
کړو دې ساز له څه نه کاڼی
په خپل لاس دې سر ته جوړ کړو
د افغان له زړه نه کاڼی

✸

د مظلوم چیغو اخیر منزل پیدا کړو
انګازه یې شوه خوره وره په عرش کې

ترېنه لاندې شول په خپله هم "حسنه"
چې یې نه راکاوو حق د زمکې فرش کې

✸

چې یو تللی بل پسې وای لکه سترګې
کاش ترمنځ مو رابطې وای لکه سترګې

چې مې کله بندې وای "حسنه"
کاش د زړه هم دروازې وای لکه سترګې

## غزل

اول ما په تا په دار کړي
وروسته دار تاته تیار کړي

ته چې ما په ټنده وولې
بیا له شانه په تا وار کړي

نوش جان ددې دښمن شه
په خپل وخت باندې خپل کار کړي

ما دې هم پرې برابر کړي
تا دې هم نور خدای په لار کړي

ځان اباد ګڼي "حسنه"
ستا وطن چې خوار و زار کړي





## غزل

څه په غم او څه د غم په انتظار کې
زندګي ده بس روانه په دې ښار کې

بیا د چم په هدیره کې مېندې ګرځي
بیا نن څړیکې دي چورلېږي په پرهار کې

د کتو په مخ کې هېڅ ورپاتې نه وي
ورته پټه چې ایینه ښکاري غُبار کې

وېرانه ده پکې تنګ به دې نظر شي
ډېر مې مه ګوره تندي ته په دیدار کې

لکه خوب د شپې دې وینمه جانانه
رانه ورک لکه تعبیر شي په سهار کې

وهل کېږم یو او بل طرف ته داسې
ته وا کاڼي یم د هر سړي په لار کې

دې دنيــا تــه راتــګ څــه و نــور "حســنه"
خــو بــس مــرګ تــه ودرېــدل و پــه کتــار کــې

✸

وي موسـکا د زړه خـوراک پـه داسـې چـم کـې
چـــې نفـــرت پکـــې ســـزا د محبـــت وي

هـېڅ پـه خولـه کـه چاتـه نـه وايـم "حسـنه"
هـــره اوښـــکه مـــې ګـــواه د محبـــت وي

✸

د غـــم زور وي چـــې لـــه زړه ســـترګو تـــه راشي
ګنـــې نـــه خيـــژي اوبـــه پورتـــه پـــه بـــره

د لـــويۍ غـــره تـــه ختـــل پـــه خاکســـارۍ شي
خلـــک ځـــي پـــه مـــلا کـــاږه پورتـــه پـــه بـــره





✸

انـــدازه يـــې د ښـــکلا نـــه معلـــومېږي
د نظـــر پـــه پېمانـــه، نـــه تلـــل کېـــږي
لکـــه ســـترګې ايينـــې هـــم وارخطـــا دي
پکـــې پـــولې يـــې د حُســـن نـــه ځـــايېږي

✸

هسـې نـه چـې زه د يـار لـه زوره نـه يـم
خـو چـې زړه درنـه پـردۍ کـړي، سـړی مات شي
د پـــردو سره دېغـــره ګرانـــه، نـــه وي
درنه بېل چې خپـل سـړی کـړي ، سـړی مات شي

✸

چـــې پـــرې ولاړ يـــم دې مقـــام تـــه اشـــنا
د ژونـــد دېغـــرو رســـولی يمـــه
ســـتا د وصـــال د خوشـــحالۍ لـــوړو تـــه
د غـــم ژورو رســـولی يمـــه

## غزل

په خوښی کې دې که کم درته راځم
لکه اوښکه په هر غم درته راځم

که په پښو کې مې زنځیر د بې وسی دی
د خیالونو په قدم درته راځم

په خوبونو مې د عشق درنې کړې سترګې
په سرو اوښکو یې مینځم درته راځم

وارخطا چې یم لا ټول درسره نه یم
په ورو ورو لکه شبنم درته راځم

څڅوه لکه اوبه مې زه "حسن" یم
بېرته پورته لکه نم درته راځم

یو شعر:
په خیرن وخت کې هم زړه صفا په کار دی
ککړ لوښي په رڼو اوبو پاکېږي





## غزل

چې په زړه پاره پاره یم لا تراوسه
روان ستا په اشاره یم لا تراوسه

د مستی د سیند څپو دې وارخطا کړم
چې ولاړ په کناره یم لا تراوسه

بَلوم د زړه ډیوه درته په وینو
چې دا ستا په ننداره یم لا تراوسه

چې یې څو نولم له ځانه پر ما لوېږي
د غمونو فواره یم لا تراوسه

بېلتون څه و نور د یار له زړه "حسنه"
لکه اوښکه اواره یم لا تراوسه

یو شعر:
خداېزده چې څه به په سجده کې غواړي
چې سر کړي جګ چاته کتلی نه شي

## غزل

کړي اخیر به مې رسوا وچې ګلپاڼې
شي مې جېب کې ګل دتا وچې ګلپاڼې

په قامت مې مه غولېږه زړه مې وچ دی
په ډنډر زانګي اشنا، وچې ګلپاڼې

دتا غم او اسویلو کې زما هیلې
خزان یووړې په هوا وچې ګلپاڼې

د زړه وچ ګل مې غم ټینګ کړي په درزا شي
کړي په موټي کې خرپا وچې ګلپاڼې

نن مې بیا دتا د مخ کتاب راواخیست
وې پکې د شونډو بیا وچې ګلپاڼې

دا مو عمر و د مینې ګل مې درکړو
تا واپس راوړې تر ما وچې ګلپاڼې





لا خوشبو د محبت لرم "حسنه"
که ځواني مې کړه یو چا وچې ګلپاڼې

✸

که هر څو مې زړه اوبه شي
ورک په سترګو کې مې نم شي

په بې دردو کې چې اوسې
لیونی دغم موسم شي

✸

یا به جسم یا به ذهن پکې سوځي
که هر نوم ورباندې کېږدې جګړه اور ده

هسې ښکاري د هر رنځ دوا جاهل ته
کنه جنګ جدل د هرې بلا مور ده

✸

د یادونو قافله دې زړه ته راغله
انگازه یې د درزا د جرس اورم
زړه مې تا پسې وهي پکې ټوپونه
چې کړنگا مې د سینې د قفس اورم

✸

ملغلرو غوندې ټکي یې خواره دي
خدایه! ته ورته امېل زما هنر کړې
چې یې اوښکې پاکوي حیا یې ساتي
هر یو شعر مې د پښتو د مخ څادر کړې

✸

تاته چا ویل چې اساس ته خلک گوري
احساس څه کوي، لباس ته خلک گوري
ستا په نرم زړه به څه وشي "حسنه"
سړیتوب نه غواړي، لاس ته خلک گوري





## غزل

تر لېمو چې درته راشم ستا تر خیاله څومره لار ده
له جماله دې جانانه تر جلاله څومره لار ده

په چوله کې د ټکري چې موده پس مې دې مخ ولید
تر سپوږمۍ د څوارلسم نو له هلاله څومره لار ده

په باران کې مې د اوښکو ستا ښکلا شنه زرغونه شوه
پر وبال مې نور لندېږي تر دې ټاله څومره لار ده

پرتله به دې څوک نه کړي له هېڅ شي سره جانانه
که څوک پوه شي چې له تانه تر مثاله څومره لار ده

ثوابي دیدن نه پېل کیسه څومره مخ ته لاړه
خبر نه وم له ثوابه تر وباله څومره لاره ده

مشالونه مې د اوښکو پر بڼو څومره کتار کړم
له بېلتونه دې جانانه تر وصاله څومره لار ده

لوی ځان مه ګڼه "حسنه" د یو څو شپېو مزل دی
ته خبر یې له کماله تر زواله څومره لار ده

✸

ورته ټول نه پاتې کېږم
چې دې ګورم تصویرونه

چې نظر ورته راټول کړم
اواره مې شي فکرونه

✸

هسې نه چې تېر شوم باد یم
اوس یې هم پر زړه اباد یم

شکایت یې زما وکړو
شکر خدایه ورته یاد یم





## غزل

په اوږدو ږیرو ښو، نه په څیرې ګریوانه شي
چې حواس یې دروغجن شي، سړی هله دیوانه شي

چې دې زور مټو کې نه وي، که دې اور ترېنه تویېږي
حقیقت به دې په خوله کې، دروغجنه افسانه شي

اوبه نه وي د انګورو، یوه خوړه غونډې موسکا وي
درنه وښنډي چې وېره، د شرابو پیمانه شي

منظم کمزوري خلک، د بلا مخ ته کلا شي
په ترتیب چې شي ځځلې، ترېنه جوړه اشیانه شي

ټوله شپه په تشه خېټه ډېر له خوب سره په جنګ وي
په جېبونو کې د ځینو چې راټوله خزانه شي

ښه پخه یې وي په زړه کې، د دیدن ژمنه "حسنه"
چې تر خولې یې رارسېږي، رنګ بدل کړي بهانه شي

## دوه قافيه غزل

په سرو اوښکو کې راغلم د رخسار شغلو ته ناست يم
وچوم ورته لمنه د ديدار لمبو ته ناست يم

د وږو سلګو په ساز کې ساعت مې اوښکو کې تېرېږي
تر کړنګ دغم تويېږي دا بشار نغمو ته ناست يم

په تارونو کې ټومبمه د نغمو سوي بخري
په زلفانو وهم ګوتې دبهار وږمو ته ناست يم

سمندر د بې خودۍ يې په سرو سترګو کې ځپانددی
په ورو ورو پکې ډوبېږم د خُمار ځپو ته ناست يم

نه يې زه شوم د ذات برخه نه شوې دوی ځلانده پاتې
په دېوال د بخت "حسنه" خړ غبار ايينو ته ناست يم





*

پروا نشته که مې ځلی وران ويجاړ و
خو د شعر به مې صفت کېږي تر ډېره
مقبرې په هغو مړو وي ولاړې
چې په نوم يې تجارت کېږي تر ډېره

*

تخريبول يې ډېر زحمت نه غواړي
تعمير د شي دومره اسانه، نه وي
خو جنګ "حسنه" بيا د اور غوندې وي
پای يې مشکل، پيل يې ګرانه، نه وي

*

خپله وفا په چا احسان نه ګڼو
مونږ بې پښتو مينه پاللی نه شو
د بې وفا يار د جفا کيسه هم
له اوښکو پرته چاته کړلی نه شو

## غزل

د غم پېټي مې په غره کېږدم جانانه
زه چې سر ستا په اوږه کېږدم جانانه

کله کله يې دتا څښو ته يوسم
کله کله لاس په زړه کېږدم جانانه

په غزل کې دې غزالې سترګې ستايم
چې راګورې لاس په خوله کېږدم جانانه

چې دې ګورمه تصوير خوله مې شي وچه
خوا ته سر ې اوښکې اوبه کېږدم جانانه

ډېر در وګورم انګړ ته، ته رانشې
بس يو ګل په ديواله کېږدم جانانه

د وره غږ شي خو ته نه يې وره ته کېنم
خوب مې يوسي سر په وره کېږدم جانانه





چې راګورې محفل کې نور څه نه کړم
لږ پګړۍ په سر کره کېږ دم جانانه

په تصوير پسې دې بندې پنجرې کړم
په بڼو باندې باڼه کېږدم جانانه

په کتا ب مې ستا د مخ قسم خوړلی
زه "حسن" لاس نور په څه کېږدم جانانه

✸

په خفګان به دې ځان تور وي
بيا چې پام وکړې خپل ځان ته

دا لوګي وهلي لوښي
که دې ورکړو بل انسان ته

✸

رانه ورکه بیا د ژوند ستړې سودا شوه
چې په سترګو کې یې مینه راپیدا شوه
چې مې زېرى د راتګ ورباندې وشو
د سرو اوښکو په ایینو کې په خندا شوه

✸

لکه ماشوم په خوله ویلی نه شي
ته یې د چوپ محبت شور وګوره
په پټه خوله د "حسن" مه غولېږه
ددې سرزوري د زړه زور وګوره

✸

د زړو ونو رېښې یې مخه نیسي
نوې ونه یې په منځ کې چې راشنه شي
ډېر زاړه، له وخته تېر، هېرول غواړي
که څوک غواړي چې یې نوي شیان زده شي